ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت
د عامه اطلاعاتو او نشراتو رياست

# ترانسپورټ او هوايي چلند مجله

علمي | معلوماتي | فرهنګي

- لاجورد دهلېز د سیمه‌ییز اتصال او اقتصادي همکارۍ دروازه (سرلیکنه)
- چابهار بندر او افغانستان ته یې ارزښت
- د سفر اداب او د ټرانسپورټ ارزښت
- تلاش‌های جدی برای ایجاد تأسیسات ترانسپورتی در ولایات
- که تندر الوتکې سره ولګېږي څه به پېښ شي؟
- پیشرفت‌های به میان آمده در خدمات ترانسپورتی افغانستان
- د هوايي چلند پرمختګونه او د نړیوالو الوتنو پراختیا

شپږمه ګڼه
د ۱۴۰۳ ل کال دریيمه





بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

اَلْحَمْدُ لله رَبِّ الْعَالَمِينْ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينْ
وَالصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ عَلَى أَشْرَفِ الْأَنْبِيَاءِ وَالْمُرْسَلِينْ
وَعَلَى ءَالِهِ وَصَحْبِهِ أَجْمَعِينْ




# ترانسپورټ او هوايي چلند مجله

علمي - معلوماتي - فرهنګي

د ۱۴۰۳ل کال درېيمه او پرلپسې شپږمه ګڼه


امتیاز خاوند: ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت

خپروونکی: د عامه اطلاعاتو او نشراتو رياست

مسئول مدير: نورالله غازي

کتنپلاوی: مولوي راز محمد المظهري، احمد جاوید فیضي
سید جاوید محبوب، احسان الله سعادت مدني
حکمت الله آصفي، عزیز الرحمن فراجغاني

عکس اخیستونکي: روح الله هنرجو، محمد ایمل سمون

ډیزاینر: محمد کمال مسعود

پته: انصاري واټ، ملي راډيو ټلویزیون ته څېرمه
ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت

اړیکې شمېره: ۰۲۰۲۹۲۳۲۹۶ (۹۳)+

ایکسپاڼه: @DChlnd

ویبپاڼه: www.mota.gov.af


یادونه:

- له سرلیکنې پرته د نورو لیکنو سپیناوی د لیکوالانو پر غاړه دی.
- د مجلې له مقالو ګټه اخیستنه د سرچینې په یادولو سره جواز لري.
- ټرانسپورټ او هوايي چلند مجله د ټرانسپورټ او هوايي چلند اړوند هغو مقالو او مطالبو ته په خپلو پاڼو کې ځای ورکوي، چې بل ځای نه وي خپرې شوې.



# په دې ګڼه کې:


| | |
|---|---|
| ١ | لاجورد دهلېز د سیمه‌ییز اتصال او اقتصادي همکارۍ دروازه (سرلیکنه) |
| ٢ | د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د قدرمن مقام لنډ پیغام! |
| ٣ | د افغانستان هوايي ډګرونه (لړۍ) |
| ٩ | چابهار بندر او افغانستان ته یې ارزښت |
| ١٠ | د سفر اداب او د ټرانسپورټ ارزښت |
| ١٢ | چرا هنگام سفر کردن در طیاره، باید تلفون‌های خودرا خاموش یا در حالت پرواز قرار دهیم؟ |
| ١٣ | ټکسوې (TAXIWAY) |
| ١٥ | که تندر الوتکې سره ولګېږي څه به پېښ شي؟ |
| ١٧ | آلودگی هوا یکی از عوامل اصلی مرگ‌ومیر در جهان |
| ١٩ | GPS سیستم د پرمختګ په لور یو ستر ګام |
| ٢١ | واخان د افغانستان او چین ترمنځ لنډ او اقتصادي دهلېز |
| ٢٥ | د هوايي چلند پرمختګونه او د نړیوالو الوتنو پراختیا |
| ٣٠ | د ټرانسپورټي اړیکو په پراختیا مهمې ناستې او هڅې |
| ٣٣ | برنامه های آموزشی در وزارت ترانسپورت و هوانوردی |
| ٣٤ | پیشرفت‌های به میان آمده در خدمات ترانسپورتی کشور |
| ٣٧ | د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت زده کړیالانو مخابرې جوړې کړې |
| ٣٨ | بېلابېلو ولایتونو کې د سلګونه موټرو تخنیکي ارزونه ترسره شوې |
| ٣٩ | د ټرانسپورټي تاسیساتو پراختیا |
| ٤١ | تلاش‌های جدی برای ایجاد تأسیسات ترانسپورتی در ولایات مختلف |
| ٤٣ | په تېرو درېیو میاشتو کې د ټرانسپورټي شرکتونو فعالیتونه |
| ٤٣ | انتقال رایگان و مصؤن مهاجرین افغان |
| ٤٤ | د دریو میاشتو په موده کې د ځینو ترسره شویو غونډو، لېدنو او کړنو لنډ خبرونه |
| ٤٨ | بایسکل یوه ارزانه او ګټوره وسیله |




# لاجورد دهلېز د سیمه‌ییز اتصال او اقتصادي همکارۍ دروازه

## سرلیکنه

لاجوردو دهلېز د افغانستان د سوداګرۍ او ټرانسپورټ په تاریخ کې هغه زرینه لار ده، چې د منځنۍ اسیا له لارې یې د اروپا، افریقا او نورو سیمو سره د اړیکو لپاره مهم نقش لوبولی دی. دغه دهلېز چې د ورېښمو لارې یوه برخه وه، د زرګونو کلونو راهیسې د بېلابېلو تمدنونو ترمنځ د سوداګریزو توکو د تبادلې لپاره یوه اغېزمنه وسیله وه. د لاجوردو لاره له یوې خوا د افغانستان لرغونی تاریخ انځوروي او له بل پلوه یې لویه ګټه دا ده، چې نړیوالو اوبو ته د لاسرسي لپاره یې اقتصادي ارزښت هم خورا زیات دی.

افغانستان د خپل جغرافیوي موقعیت په برکت د سوداګرۍ او ټرانسپورټ لپاره بې‌ساري امکانات لري. د لاجورد دهلېز، چې له اقینې او تورغونډۍ بندرونو څخه پیلېږي، د ترکمنستان، اذربایجان او ګرجستان له لارې ترکیې او اروپا ته لار مومي. دا دهلېز د افغانستان لپاره نړیوالو بازارونو ته د نښلولو یوه ستراتیژیکه وسیله ګڼل کېږي.

د دې دهلېز د اهمیت د بیا راژوندي کولو لپاره، په استانبول کې د سیمې د ټرانسپورټ وزیرانو یوه مهمه غونډه ترسره شوه. په دې غونډه کې د لاجوردو لارې د اغېزمنې ګټې اخیستنې، د اسانتیاوو برابرولو او پانګونې لپاره په څو اړخیزو اقداماتو ټینګار وشو. د ترکیې د ټرانسپورټ وزیر دغه دهلېز د سوداګرۍ او ټرانسپورټ لپاره ستراتیژیکه لار وبلله، چې د افغانستان په ګډون د سیمې ټولو هېوادونو ته اقتصادي ګټې لري.

په کابل کې د ترکیې سفیر جنک اونال سره د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت سرپرست الحاج ملا حمیدالله اخندزاده په لیدنه کې د دې دهلېز د بیا فعالولو په برخه کې د دوه اړخیزو ټرانزیټي او ټرانسپورټي اړیکو د پراختیا په اړه ګټور بحث وشو.

د لاجوردو لارې د بیا فعالولو لپاره د امیرالمؤمنین (حفظه‌الله) د حکم پر بنسټ په ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت کې د یو شمېر اړوند وزارتونو له استازو سره یوه ناسته وشوه، چې په ترڅ کې یې د دې دهلېز د فعالولو لپاره پر طرحې جوړولو خبرې وشوې.

لاجورد دهلېز د افغانستان لپاره یوازې یوه سوداګریزه لار نه ده، بلکې د دې هېواد د اقتصادي پرمختګ، سیمه‌ییز اتصال او نړیوالو بازارونو ته د لاسرسي یو حیاتي پُل دی. د دې ستراتیژیکې لارې بیا فعالول به نه یوازې افغانستان، بلکې ټولې سیمې ته د سوکالۍ او همکارۍ نوې دریڅې پرانیزي.

## د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د قدرمن مقام لنډ پيغام!

په غزني ولايت کې د کابل-کندهار پر لويه لار د دوو جلا مرګونو ترافيکي پېښو د رامنځته کېدو خبر د ډېرو هېوادوالو زړونه ودردول. په دې خونړيو پېښو کې زموږ يو شمېر ګران هېوادوال شهيدان او ګڼ نور ټپيان شول. د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د دې پېښې قربانيانو کورنيو ته د زړه له کومې د تسليت مراتب وړاندې کوي او د الله تعالی ﷻ له لوی دربار څخه د شهيدانو لپاره د فردوس جنت او ټپيانو لپاره د عاجلې شفا غوښتنه کوي.

دغه پېښې د ټولو لپاره يو جدي خبرداری دی چې د ترافيکي قوانينو په عملي کولو کې لا ډېر جدي واوسي او د بې احتياطۍ هغه ناوړه پايلې درک کړي چې د معصومو خلکو ژوند ته زيان رسوي.

ټولو موټرچلوونکو ته سپارښتنه کېږي، چې د ترافيکي اصولو درناوی وکړي او د موټر چلونې پر مهال د تېز رفتارۍ او بې پروايۍ څخه ډډه وکړي. د هر انسان ژوند ارزښت لري او د يو چلوونکي بې احتياطي د ګڼو کورنيو لپاره نه جبرانېدونکی غم راولړلی شي. د موټر چلوونکي دنده يوازې د موټر حرکت نه دی، بلکې د مسافرو خونديتوب او د سړک نورو کاروونکو ته درناوی هم د هغه اخلاقي او مسلکي مسؤليت دی.

ټرانسپورټي شرکتونو ته هم سپارښتنه کېږي، چې د خپلو موټرو په منظمه توګه تخنيکي ارزونه وکړي او ډاډ ترلاسه کړي چې ټول وسايط يې د سفر لپاره خوندي دي. د مسافرو ژوند خونديتوب بايد د ټولو لومړيتوب وي او هېڅ ډول بې احتياطي دې د خلکو ژوند د خطر سره نه مخ کوي.

د ولسونو څخه غوښتنه کېږي چې د سړک د اصولو او ترافيکي قوانينو په مراعات کولو کې له حکومت سره همکاري وکړي. د خلکو ژوند هغه امانت دی چې ساتنه يې يوازې د حکومت مسووليت نه دی، بلکې د ټولنې هر غړی په دې برخه کې ونډه لري.

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د دې پېښې د لاملونو د څېړلو لپاره له اړوندو ادارو سره په ګډه کار کوي او ژمنه کوي چې د داسې پېښو د مخنيوي لپاره به ټول اړين ګامونه پورته کړي او هغه ټرانسپورټي شرکتونه چې د ټرانسپورټي او ترافيکي اصولو خلاف عمل وکړي، قانوني چلند به ورسره کېږي.

راځئ ټول په ګډه د ترافيکي پېښو د مخنيوي لپاره خپل ملي او انساني مسؤليت ترسره کړو او د داسې ناوړه پېښو د بيا تکرار مخه ونيسو. د هر چا ژوند ارزښت لري او په ګډه کولای شو خپلې لارې د امن او هوساينې بڼې ته واړوو.

**الحاج ملا حميدالله اخندزاده**

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست

(لړۍ)



# د افغانستان هوايي ډګرونه

پرلپسې درېيمه برخه

افغانستان د هوايي ډګرونو د پېژندګلوی په دې لړۍ کې دا ځل د افغانستان بل مهم هوايي ډګر د هرات (خواجه عبدالله انصاري نړيوال هوايي ډګر) درپېژندل کېږي.

# خواجه عبدالله انصاري نړیوال هوایي ډګر




خواجه عبدالله انصاري نړیوال هوایي ډګر د افغانستان په اقتصادي، سوداګریز او ټرانسپورټي ډګر کې یو مهم ځای لري او د سیمې د نښلولو لپاره یو مهم مرکز دی، دا هوایي ډګر د افغانستان د ختیځ کلتوري مرکز، هرات او ټول هېواد لپاره یوه دروازه ده، چې د نړۍ پر لور پرانېستل شوې ده، دې هوایي ډګر سیمه‌ییز سفرونه اسانه کړي او د افغانستان اقتصادي او ټولنیز ژوند ته یې نوی ارزښت ورکړی دی. د دې هوایي ډګر تاریخ او وده د افغانانو د زړورتیا، د پرمختګ لپاره د ژمنتیا او د نړیوالو معیارونو سره د برابرېدو هڅې ښیي. د ټرانسپورټ و هوایي چلند وزارت نوې ژمنې او د پرمختګ پروژې د دې ډګر په راتلونکي کې د لا زیاتو فرصتونو دروازې پرانیزي.

## د هوایي ډګر تاریخي مخینه



د هرات هوایي ډګر په ۱۳۳۸ل کال کې د اریانا د کوچنیو الوتکو لپاره د هرات ښار سوېل په ۱۳ کیلو مترۍ د ګذرې ولسوالۍ کې جوړ شو او په لومړیو کې ترې (ډی سي - ۳) ډوله الوتکو ګټه پورته کوله. وروسته د یاد هوایي ډګر د پراختیا او پرمختیا چارې د مورسن ساختماني شرکت له‌خوا په ۱۳۳۹ل کال د تلې په میاشت کې پیل شوې، چې په دې کې ۲۵۰۰ متره اوږده او ۳۵ متره پراخه او پخه ځغاستلیکه، د ځغاستلیکې ډېراغونه، د بار اخیستلو او د الوتکو تم ځای لپاره رمپ، د الوتنو د څار برج سره سمبال د منځنۍ کچې د ترمینل ودانۍ، د اوروژنې او هوا پېژندنې لپاره ودانۍ، د الوتکو د سون توکو یوه کوچنۍ زېرمه، د (NDB)ډوله الوتکو د لارښوونې آله او د HF او VHF مخابراتي وسایل او همدارنګه د برېښنا، اوبو رسولو او د څارنې سیستمونه پکې فعال شول.

د دې تر څنګ د هوايي ډګر کارکوونکو لپاره اوه فاميلي استوګنيز کورونه هم جوړ شول. ياد هوايي ډګر په ۱۳۳۰ل کال کې په فعاليت پيل وکړ او د اريانا (ډي سي - ٦) ډوله الوتکو ترې ګټه پورته کوله. د وخت په تېرېدو ځغاستليکې چاودونه پيدا کړل، چې د (بوينګ - ۷۲۷) او نورو لويو الوتکو لپاره خوندي نه ګڼل کېده.

په وروستيو کلونو کې که څه هم دا هوايي ډګر د هغه وخت دولت د پراختيايي پلان په چوکاټ کې د بيا رغونې پروژې برخه ګرځېدلې وه؛ خو يوازې دومره يې وکړل چې د ۴۰۰ مترو په اندازه يې ځغاستليکه په شګو او جغل وپوښله، نور داسې کوم اړين کار ونه شو ترسره نهشو او يوازې د ټرانسپورټي او روزنيزو الوتکو او د اريانا افغان هوايي شرکت د کوچنيو الوتکو لخوا په دوامداره توګه کارېده.

## په وروستيو کې پراختيا او پرمختګونه

د دې هوايي ډګر د رغونې چارې له ۲۰۰۵ز کال څخه وروسته بېرته پيل شوې، که څه هم په هغه وخت کې دا هوايي ډګر ډېر د نظامي موخو لپاره کارول کېده او په ۲۰۰۹ز کال د دې هوايي ډګر ځغاستليکه درې زره مترو په اندازه وغځول شوه او د ايټاليا هېواد له لورې يو نوی ترمينل ورته جوړ شو، چې د درې زرو مسافرو د ځايېدو ظرفيت يې درلود او د V-SAT پرمختللی سيستم، د هوايي ترافيکو د کنټرول پرمختللي وسايل او د نړيوالو معيارونو سره سم نوي تجهيزات پکې فعال شول.

ياد هوايي ډګر په ۱۳۸۹ل کال د اريانا افغان هوايي شرکت د ايربس الوتکې په لومړنۍ ناستې سره د نړيوال هوايي ډګر په نوم ونومول شو، چې د کورنيو الوتنو تر څنګ د نړۍ ځينو هېوادونو ته هم ترې الوتنې پيل شوې او په يو ډېر مهم هوايي ډګر بدل شو.





# د خواجه عبدالله انصاري په نوم نومول

دا هوايي ډګر چې پخوا د هرات نړیوال هوايي ډګر په نوم پېژندل کېده، په ۱۳۹۹ل کال د سلواغې میاشتې په دویمه نېټه د نومیالي عارف او لیکوال خواجه عبدالله انصاري په نوم ونومول شو. خواجه عبدالله انصاري، چې د پنځمې هجري پېړۍ یو ستر عارف، پوه، او معنوي لارښود و، په خپلې ژورې پوهې، علمي خدمتونو او عرفاني شاعرۍ سره نه یوازې د هرات او افغانستان، بلکې د اسلامي نړۍ په تاریخ کې د درناوي وړ مقام لري. اوس د هرات هوايي ډګر د "خواجه عبدالله انصاري نړیوال هوايي ډګر" په نوم یادېږي، له دې نوم سره نړیوالو ته د هرات ښار تاریخي، کلتوري او معنوي حیثیت هم ورپېژندل کېږي.

## د خواجه عبدالله انصاري نړیوال هوايي ډګر اوسنی حال

خواجه عبدالله انصاري نړیوال هوايي ډګر، چې په معیاري او پرمختللي بڼه فعالیت کوي، د افغانستان د هوايي ټرانسپورټ په برخه کې یو مهم پرمختګ ګڼل کېږي. دغه هوايي ډګر د ۳.۲ کیلومتره اوږده او ۴۵ متره پراخه ځغاستلیکه لري، چې د ایکاو نړیوال سازمان د معیارونو سره سمه ډیزاین شوې ده. د دې هوايي ډګر په ساحه کې ۱۳ ټکسوې او څلور فعال رمپونه شته، چې د الوتکو د خوندي ناستې او الوتنې لپاره پراخه اسانتیاوې برابروي. د دې هوايي ډګر ترمینل په یوه وخت کې د ۳۰۰۰ مسافرو د ځایولو ظرفیت لري او په ټولو عصري وسایلو او تجهیزاتو سمبال او مسافرو ته ټولې اړینې اسانتیاوې وړاندې کوي.

په دې هوايي ډګر کې د مسافرو لپاره پراخه اسانتیاوې لکه ګمرک، صرافي، پراخ انتظارځای، رسټورانټ او نور اړین خدمات موجود دي. کورنۍ الوتنې د کابل، کندهار، بادغیس، هلمند، فراه او بامیان او نورو ښارونو ته او نړیوالې الوتنې استانبول، انقره، تاشکند، اسلاماباد او سعودي عربستان ته ترې ترسره کېږي.

د دې ترڅنګ د دې هوايي ډګر ټوله تخنیکي برخه مسلکي او روزل شوي افغان کارکوونکي اداره کوي، چې د الوتکو د لارښوونو او نورو تخنیکي مسایلو په برخه کې فعالیت کوي.

د شپې مهال هم د الوتنو لپاره د ځغاستلیکې، ټکسوې او رمپ برخو په روښانتیا کې پرمختګ شوی، ترڅو د شپې مهال هم الوتنې په خوندي توګه ترسره شي.

د امنیت او تلاشۍ لپاره په دې هوایي ډګر کې د بګاژ او مسافرو د سکن برېښنایي ماشینونه موجود دي، چې د ایکاو نړیوالو معیارونو سره سم د مسافرو لپاره امنیتي خدمتونه وړاندې کوي. سربېره پر دې په دې هوایي ډګر کې د هواپېژندنې پرمختللي تجهیزات شته، چې په هوایي چلند کې الوتکو ته دقیق او پروخت معلومات برابروي. د Synaptic سیستم له لارې هره ورځ تازه معلومات وړاندې کېږي، چې د موسمي حالاتو په اړه دقیق معلومات وړاندې کوي.

دا هوایي ډګر پنځه فعال اوروژونکي موټرونه (اطفایې) او مسلکي کارکوونکي لري، چې په هر ډول بیړنیو حالاتو کې د چټک غبرګون وړتیا لري. د مسافرو لپاره پراخ تم ځای، جومات، اودسځای، انتظارځای او ښکلې زرغونې سیمې او منظرې موجودې دي، چې مسافرو ته د ارامښت زمینه برابروي.د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت ژمن دی چې د دې هوایي ډګر خدمتونه لا ښه کړي، ترڅو مسافرو ته معیاري او عصري خدمات وړاندې شي. په همدې موخه د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت سرپرست الحاج ملا حمیدالله اخندزاده هرات ولایت ته د خپل سفر

په ترڅ کې د خواجه عبدالله انصاري نړیوال هوایي ډګر څخه د لیدنې پر مهال وویل، چې د یاد هوایي ډګر د رمپ ساحه او د موټر تمځای به په اساسي ډول پراخ او بیا ورغول شي. یو نوی کنټرول ټاور یا د څار برج او د اور وژنې ځانګې لپاره هم یوه نوې ودانۍ جوړېږي او له دې سره د ټول هوایي ډګر ساحه د اوسپنیز دیوال یا فېنس په مرسته خوندي کېږي، چې له دې سره به یاد هوایي ډګر کې لا پرمختګ او معیار رامنځته شي.

خواجه عبدالله انصاري نړیوال هوایي ډګر د افغانستان د هوایي ټرانسپورټ په برخه کې یو مهم سمبول دی، چې د هېواد په پرمختګ او نړیوالو اړیکو په پیاوړتیا کې مهمه ونډه لري. دا هوایي ډګر نه یوازې د هرات د کلتوري او معنوي حیثیت استازیتوب کوي، بلکې د سیمې د اقتصاد او سوداګرۍ په برخه کې یو لوی پرمختګ او نوښت دی. د دې هوایي ډګر پرمختګ نه یوازې د افغانستان د ټرانسپورټ په نظام کې مثبت بدلون رامنځته کړی، بلکې د کورنیو او نړیوالو مسافرو لپاره یې د خدمتونو یوه عصري او د باور وړ فضا برابره کړې ده. د دې هوایي ډګر پرمختګ په اقتصادي، سوداګریزو او سیاحتي برخو کې د افغانستان د پیاوړتیا لپاره یو مهم ګام دی، چې د نړیوالو اړیکو د پیاوړتیا په برخه کې دېرې دروازې پرانیزي.



# چابهار بندر او افغانستان
# ته يې ارزښت



سوداګري په افغانستان کې لرغونې مخینه لري، دا هېواد پخوا د ورېښمو پر لویه لار پروت و، چې ختیځ او لوېدیځ یې سره نښلولي وو. له ۱۲۹۹ل کال څخه وړاندې د هېواد سوداګرو خپل سوداګریز توکي د ننګرهار له لارې پېښور ته، له پېښور کراچۍ او بیا د بېړیو په وسیله تر نورو هېوادونو لېږدول. په ۱۹۲۰ز کال د برېتانیې د همکارۍ نه کولو په دلیل افغانستان اړ شو، چې د خپلې سوداګرۍ لورۍ د پخواني شوروي اتحاد خوا ته بدل او له هغې لارې خپل سوداګریز توکي پرته له ګمرکي محصوله نړۍ ته ولېږدوي.

په۱۳۲۹ - ۱۳۳۹ل کلونو کې افغانستان دیوې پخې حلقوي لارې څښتن شو چې په چمن، کندهار او تورخم کې له پښتونخوا او پاکستان سره، د هرات له لارې ترکمنستان او ایران سره او په بلخ کې د حیرتان بندر او په کندوز کې د شېرخان بندر له لارې له پخواني شوروي اتحاد سره وتړل شو.

چابهار بندر د ایران په سیستان او بلوچستان ولایت کې او د عمان خلیج په سواحلو کې یو ستراتیژیک سمندري بندر دی، چې ۱۳زره هکتاره مساحت لري، چې په شمال کې منځنۍ اسیا او افغانستان، ختیځ کې پاکستان او سوېل کې د هند سمندرګی سره نښلوي.



دا بندر افغانستان، ترکمنستان، اوزبکستان، تاجیکستان، قرغزستان او قزاقستان هېوادونو ته چې په وچه پورې تړلي دي، ډېر ارزښت لري او تر ټولو په لنډه لاره ازادو اوبو ته وتلی شي. دا بندر د هند، ایران او افغانستان تر منځ د سوداګریزو اړیکو لپاره یوه ډېره مهمه ترانزیټي لاره ګڼل کېږي او د افغانستان لپاره ځانګړی اهمیت لري او دا لاره د نړۍ بازارونو ته د لاسرسي یوه غوره بدیله لاره ګڼل کېږي.

د چابهار بندر پراختیا د ۱۹۷۰مو کلونو په پای کې پیل شوه؛ خو د ایران انقلاب او بیا د ایران او عراق جګړې د دې پروژې پرمختګ ورو کړ. په ۲۰۰۳ز کال کې د ایران او هند ترمنځ یوه هوکړه لاسلیک شوه، چې له مخې یې هند په چابهار بندر کې پانګونه وکړه. په ۲۰۱٦ز کال ایران، هند او افغانستان د چابهار بندر په اړه یو درې اړخیزه تړون لاسلیک کړ چې له مخې یې هند ژمنه وکړه چې په چابهار بندر او اړوندو ټرانزیټي لارو کې پانګونه وکړي.

# افغانستان ته د چابهار بندر ارزښت

**اقتصادي پرمختګ:** چابهار بندر افغانستان ته د سوداګریزو توکو د وارداتو او صادراتو لپاره یوه مهمه ټرانزیټي لاره برابروي. دا بندر د افغانستان سوداګرو ته دا امکان ورکوي، چې خپل توکي د هند او نورو اسیایي هېوادونو بازارونو ته په اسانه او ارزانه توګه ورسوي.

**د ټرانزیټي لارو تنوع:** چابهار بندر افغانستان ته د پاکستان د کراچۍ بندر او د منځنۍ اسیا د هېوادونو له لارې د ټرانزیټي لارو بدیل ګڼل کېږي. دا د افغانستان لپاره د ټرانزیټي لارو تنوع او بدیل انتخاب دی، چې په دې سره ټرانسپورټي لګښتونه کمېږي او د سوداګرۍ لپاره ښه شرایط برابروي.

**سیاسي او ستراتیژیک اهمیت:** د چابهار بندر پراختیا د ایران، هند او افغانستان تر منځ د سیاسي او اقتصادي همکاریو پراختیا ته هم لار هواروي. دا درې هېوادونه د چابهار بندر په وسیله د خپلمنځي اړیکو پیاوړتیا ته هڅه کوي، چې په دې سره د سیمې په کچه د سولې او ثبات لپاره هم مهم ګڼل کېږي.

افغانستان له چابهار بندر سره په ۲۰۱۶ز کال کې د درې اړخیزه تړون له لارې وتړل شو. د دې تړون له مخې هند په چابهار بندر او د افغانستان زرنج دلارام سړک په رغونه او پرمختګ کې پانګونه وکړه. دغه تړون افغانستان ته دا امکان ورکړ، چې خپل صادراتي توکي د چابهار بندر له لارې نړیوالو بازارونو ته ولېږي او وارداتي توکي هم له دې لارې وارد کړي.

په ۲۰۰۳ز کال کې هندوستان او ایران یوه هوکړه لاسلیک کړه چې پر بنسټ یې هندوستان ژمنه وکړه چې د بندر د زېربناوو جوړولو او پراختیا په برخه کې به ډېره پانګونه کوي؛ خو پر ایران د امریکا له خوا د لګېدلو بندیزونو له کبله د کار پرمختګ ډېر ورو و.

سره له دغو بندیزونو هندوستان خپل کار ته دوام ورکړ او په ۱۳۸۸ل کال د ۱۳۵ میلیونه ډالرو په لګښت یې د زرنج - دلارام لویه لاره چې د کابل - هرات لویه لاره له زرنج او له هغه ځایه له چابهار سره نښلوي، بشپړ کړ.

افغانستان چې له طبیعي زېرمو ډک هېواد دی؛ خو دا طبیعي زېرمې را ایستل او بیا نورو هېوادونو ته لېږدول یوې باوري لارې ته اړتیا لري، د چابهار بندر به د افغانستان لپاره لارې پرانېزي تر څو خپل معدني توکي استخراج او صادر کړي او هم د دغه کار لپاره د اړینو ټرانسپورټي زېربناوو جوړولو امکانات برابر کړي.

د چابهار بندر چې له نړیوالو اوبو سره تړلی او د افغانستان له نیمروز ولایت څخه ۷۰۰ کیلومتره واټن لري، د کراچۍ بندر په پرتله افغانستان ته ۱۰۰۰ کیلومتره نږدې دی. دا چې پاکستان کله ناکله افغان سوداګرو ته ستونزې جوړوي، د چابهار بندر له لارې به د افغانستان صادرات په ځانګړې توګه وچه او تازه مېوه هند، قزاقستان، خلیجي او اروپايي هېوادونو ته په اسانه او ارزانه توګه لېږدول کېږي. د افغانستان، هند او ایران تر منځ د چابهار ټرانزیټي بندر د پراختیا درې اړخیز تړون په ۳/۳/۱۳۹۵ل نېټه د ایران، هند او افغانستان تر منځ لاسلیک شو. باید وویل شي چې چابهار بندر افغان سوداګرو ته په دې هم د ډېر ارزښت وړ دی، چې پر صادراتو او وارداتو یې لګښت کم کېږي، مالونه یې ژر نړیوالو مارکېټونو ته رسېږي او له دې سره له هغو ستونزو هم ژغورل کیدای شي چې د کراچۍ بندر کې ورسره لاس و ګریوان وو.

چابهار بندر د افغانستان لپاره یو ستراتیژیک او اقتصادي اهمیت لرونکی بندر دی، چې د هېواد د اقتصادي پرمختګ، ټرانزیټي لارو تنوع او سیاسي او ستراتیژیکو اړیکو پراختیا لپاره ډېر مهم دی. د دې بندر له لارې افغانستان کولی شي خپل صادرات په اسانه او ارزانه توګه نړیوالو بازارونو ته ولېږدوي او وارداتي توکي له دې لارې وارد کړي، چې دا د هېواد اقتصادي راتلونکې لپاره ډېر مثبت اغېز لري.

# د سفر اداب او د ټرانسپورټ ارزښت

مفتي عزيزالرحمن عزيزي

لکه څرنګه چې موږ ټولنيز ژوند ته اړتيا لرو ټولنه بيا خپلې اړتياوې لري خوراک، څښاک، کور، کلی، ناسته پاسته، تګ و راتګ، حضر او سفر چې هر يو خپل اداب او نزاکت لري، لکه څرنګه چې د خوراک او څښاک اداب شته، همدا ډول سفر هم خپل اداب لري، چې د انسان لپاره خورا ګټور او له حکمتونو ډک دي.

په سفر کې بايد څلور خبرې په پام کې ونيول شي: پلان جوړول، ښه ملګرى، توښه او سوارلي.

هر کار چې ترسره کېږي، له وړاندې بايد له يو چا نېکه مشوره واخېستل شي، يا دې استخاره ترسره کړي او يو غوره پلان دې له کورنى او يا له ملګرو سره برابر کړي او د سفر ټول اړخونه دې وڅيړي بيا دې ښه غور او فکر په کې وکړي وروسته دې الله رب ذوالجلال ته خپل ځان وسپاري کله چې بنده په حرکت پيل کړي، الله تعالى به برکت په کې اچوي.

**دويم:** کله چې سفر کوې بايد نيک ملګرى غوره کړې.

امام غزالي رحمه الله وايي : کله چې سفر ته ځې لومړى ملګرى خوښ کړه او بيا لاره غوره کړه.

مناسبه داده چې يو داسې ملګرى غوره کړئ، چې نېک، مينه ناک او مرسته کوونکى وي، کله چې ته ترېنه هېرېږې وريادوي يې او چې ورياد وي بيا مرسته ورسره کوي، کله ملګرى بې‌زړه وي زړه او ډاډ ورکوي که کمزورى شي ځواک ورکوي او که زړه يې تنګ شي؛ نو د صبر سپارښتنه ورته کوي.

امام شعراوي رحمه الله وايي: له سفر څخه مخکې ښه ملګرى غوره کړه. (تفسير الشعراوي)

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: تاسو ملګرتيا مه کوئ، مګر د مومن سرې سره. ( لَا تُصَاحِبْ إِلَّا مُؤْمِنًا" رواه الترمذي ٢٣٩٥).

بايد سفر له څو ملګرو سره وشي؟

د سفر کولو لپاره بايد لږ تر لږه درې ملګري غوره کړى شي؛ ځکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم له دې څخه منعه کړې چې يوازې يو سړى دې چيرته سفر وکړي: يو تن چې کله سفر کوي يو شيطان ورسره وي، له دوه سره دوه او له درېيو سره شيطانان نه وي.

په بل روايت د سعيد ابن المسيب کې راځي: شيطان د يو او دوه تنو په مينځ کې وهم اچوي خو کله چې درې تنه شي بيا وهم او وسوسو څخه ژغورل شوي وي. (مَا رُوِيَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ مُرْسَلاً: الشَّيْطَانُ يَهُمُّ بِالْوَاحِدِ وَالِاثْنَيْنِ، فَإِذَا كَانُوا ثَلَاثَةً لَمْ يَهُمَّ بِهِمْ. السنن الكبرى للبيهقي٥/ ٤٢١)

محدثينو د درې او يا زياتو ملګرو په اړه خورا ډېرې ګټې څرګندې کړي، څوک چې سفر کوي، بايد له درېيو تنو څخه زيات ملګري ولري؛ ځکه چې دا يو ټولى دى او د الله تعالى قدرت له ټولي سره وي.

سترو او اوږدو لارو مزلې د هر ډول ستونزو څخه ډکې وي او انسان ورسره مخامخ کېږي؛ ځکه چې الله تعالى وايي ما انسان کمزورى پيدا کړى.

کله چې سفر کوي بايد د ورځې په لومړى برخه کې پيل کړاى شي؛ ځکه چې پيغمبرصلى الله عليه وسلم دعا کړې اللَّهُمَّ بَارِكْ لِأُمَّتِي فِي بُكُورِهَا» (اى الله جل جلاله زما امت لپاره د ورځې په لومړى برخه کې (په سهار ) کې برکت واچوې ( مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح)

**درېيم:** يو مسافر چې په سفر ځي، د سفر اړتيا وړ توښه بايد له خپل ځان سره ولري. لکه يو حاجي چې د بيت الله شريف حج ته ځي، لومړى شرط دادى چې د سفر دومره توښه له ځان سره ولري، چې د بېرته راستنېدو پورې توانايي وروښني.

**ځلورم:** سوارلۍ د سفر اړینه وسیله ګڼل کیږي، پخوا به سفر د اوښ، اس او نورو حیواناتو پرمټ ترسره کېده؛ خو اوسنۍ زمانه کې د سفر لپاره خورا مهم وسایط تولید شوي دي او ډېرې لرې پرتې سیمې هم د موټرو، الوتکو او کښتیو پرمټ نښلول شوي دي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم روایات ته په کتو سره باید د خپلو وسایطو سره ډېر احتیاط وشي او هر څه ته یې پاملرنه وشي. له ابو هریرة رضی الله څخه روایت دی: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي، په داسې وخت کې باید سفر وکړی، چې په هغه وخت کې د سپرلۍ حیواناتو لپاره واښه او ګیاه زیاته وي؛ نو اوښ ته د ځمکې نه خپل حق ورکړئ او که سفر مو داسې حالت کې وي چې قحطي یعنې وچکالي وي بیا تاسو مزل په چټکۍ سره وکړئ ( هر ځای ودرېدل او دمه مه کوئ، مخکې له دې چې سوارلي مو کمزوري شي، خپل هدف ته ځانونه ورسوئ. ) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: إِذَا سَافَرْتُمْ فِي الْخِصْبِ فَأَعْطُوا الْإِبِلَ حَقَّهَا (صحیح ابن حبان رقم ۲۷۰۳)

کله مو چې د شپې دمه کوله، د لارې څخه ډډه وکړئ؛ ځکه چې په لارو باندې بېلابېل حیوانات ګرځي، چې په دې کې یې ځینې داړونکي حیوانات هم وي. (مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح ٦/ ۲۵۱۳).

روایاتو ته په کتو سره باید د سفر حقونو او د ټرانسپورټ ارزښت ته پاملرنه وشي، که څه هم پخواني د سفر وسائل د اوسني وسائلو سره خورا ډېر توپیر لري، پخوا پر اوښ، اس او نورو حیواناتو باندې سفر کېده، په نننۍ دور کې د وسائلو او ټکنالوژۍ په پرمختګ سره اوږده سفرونه هم په ډېر لږ وخت کې په خورا چټکۍ سره ترسره کیږي او د انسانانو تر څنګ سوداګریز توکي هم د همدې پرمختللیو وسیلو پر مټ د نړۍ هرې برخې ته لېږدول کېږي. د ټرانسپورټ هره وسیله چې وي باید په داسې توګه د وړ کسانو لهٔخوا وکارول شي، چې خلکو ته د خېر او اسانۍ لامل وګرځي.

# چرا هنگام سفر کردن در طیاره، باید تلفون‌های خود را خاموش یا در حالت پرواز قرار دهیم؟

یک پیلوت با نشر ویدیویی در صفحات اجتماعی، علت لزوم استفاده از حالت پرواز در تلفون‌ها هنگام پرواز را توضیح داده است.

این پیلوت در ویدیویی که نشر شده، می‌گوید؛ فراموش کردن این دستورالعمل "خاموش یا در حالت پرواز قراردادن تلفون هنگام پرواز" باعث سقوط طیاره یا ایجاد اختلال جدی در سیستم‌های داخلی آن نمی‌شود.

با این‌حال به گفته او اگر تعداد زیادی از مسافران این دستورالعمل را رعایت نکنند، ممکن است ارتباطات رادیویی پیلوت با برج مراقبت دچار اختلال شود. پیلوت در این ویدیو گفته: "اگر سه یا چهار نفر از میان ۷۰، ۸۰ یا ۱۵۰ مسافر حاضر در طیاره بخواهند تماس تلفونی برقرار کنند، امواج رادیویی ارسال شده از تلفون‌ها می‌تواند با امواج ارتباطی هدست خلبان تداخل پیدا کند."

وی در این ویدیو خاطره‌ای از یک پرواز را نقل کرده که در آن هنگام دریافت دستورات حرکتی از برج مراقبت، به دلیل تداخل امواج، حس می‌کرد صدای شبیه به پشه در گوشش شنیده می‌شود. او می‌گوید: "این اتفاق خیلی جدی نیست، اما وقتی در حال یادداشت دستورات هستید و چنین صدای در گوش شما می‌پیچد، واقعاً آزاردهنده است."

طبق مقررات شرکت‌های هوایی، تمامی تلفون‌های همراه باید هنگام پرواز خاموش یا در حالت پرواز قرار داده شوند. بر اساس مقررات این شرکت‌های هوایی: "تلفون‌های همراه نصب‌شده در طیاره یا همراه مسافران، هنگام پرواز نباید روشن باشند. زمانی که طیاره از زمین بلند می‌شود، تمامی تلفون‌های همراه باید خاموش شوند." این پیلوت همچنین تأکید کرده که رعایت حالت پرواز تنها به‌منظور جلوگیری از این نوع تداخلات ارتباطی است و جنبه امنیتی دیگری ندارد. او می‌افزاید: "اگر کنجکاو هستید که چرا باید حالت پرواز را فعال کنید، دلیل آن همین است."

این ویدیو موردتوجه بسیاری از کاربران قرار گرفته و بحث‌های متعددی را درباره تأثیر تلفون‌های همراه بر سیستم‌های طیارات برانگیخته است.

**تهیه و ترتیب‌کننده: عزیز الرحمن "فراجغانی"**



# ټکسوې
# (TAXIWAY)




لکه څرنګه چې په تېره ګڼه کې موږ د هوايي ډګر پر ځغاستليکه (RUNWAY) باندې بحث وکړ، په دې ګڼه کې به تاسو قدرمنو لوستونکو ته د هوايي ډګر پر ټکسوې (TAXIWAY) سړک (لار) باندې معلومات درکړل شي. ټکسوی (Taxiways) سړکونه په هوايي ډګر کې له هغو مهمو او اړينو برخو څخه دي، چې ځغاستليکه د اپرونونو(د الوتکو تم ځايونه) او ترمينلونه سره نښلوي. د نړيوال ملکي هوايي چلند سازمان (ICAO) د اصولو له مخې ټکسوې سړک په داسې شکل تعريف شوی دی: « په هوايي ډګر کې يو ځانګړې لار ده، چې د الوتکو د تېرېدلو لپاره رامينځته شوې او همدا ډول د هوايي ډګر يوه برخه د بلې برخې سره نښلوي».
د ټکسوې مرکزي ليکه او اطراف په ژېړ رنګ سره پېداره سوي دي. او همدا ډول دا پېداره سوې څنډې او مرکزي برخه په لايټونو هم سمبال دي.

د ټکسوې مرکزي ليکه او اطراف په ژېړ رنګ سره پېداره شوي دي او همدارنګه دا پېداره شوې څنډې او مرکزي برخه په لايټونو سمبال دي. مرکزي يې په زرغونو لايټونو سره يې او اطرافي برخې يې په شنو لايټونو سره روښانه شوې دي، ترڅو پيلوټ وکولای شي د شپې لخوا او يا هم په خرابه هوا کې سړک ووينې او په خوندي ډول ځغاستليکې ته ورسېږي او يا هم اپرون/ترمينل ته داخل شي.

**د (Taxiway) سړک ډولونه:**

**Parallel Taxiway:۱** نوموړې ټکسوې اپرون د ځغاستليکې سره نښلوي.

**Rapid Exit Taxiways :۲** په بوختو هوايي ډګرونو کې چې الوتنې او ناستې پکې ډېرې وي؛ نو يادې ټکسوې ددې لپاره کارېږي، چې الوتکه له ناستې وروسته په تېزی سره د ځغاستليکې څخه عمومي ټکسوې ته ور دننه شي، ترڅو بلې الوتکې ته پر ځغاستليکه د ناستې لپاره ژر نوبت ورسېږي.

**Intersections Taxiway :۳** نوموړې ټکسوې څو ټکسوې ګانې سره نښلوي او يا په بل عبارت ټکسوې له ځغاستليکې سره نښلوي. کله چې الوتکه الوتنې ته چمتو شي؛ نو له يادې ټکسوی څخه ځغاستليکې ته داخليږي.



## په هوايي چلند کې د ټکسوې اهمیت:



- د الوتکو خوندي او اغېزمن ځمکني حرکتونه ډاډمنوي.
- د الوتکو د ځمکنې ټکرونو احتمال کموي.
- د ترافيکو جريان په اسانولو، د ځنډ په کمولو او داسې نورو برخو کې مهم رول لري.

هېره دې نه وي چې په هوايي ډگر کې نومونړي سرکونه د انگليسي الفباء په تورو سره پېژندل کېږي.

لکه: (A, B, C, A1) او داسې نور...

په پای کې به ووايو چې ټکسوې په هوايي ډگر کې د زيربيناوو له مهمو برخو څخه گڼل کېږي، چې د الوتکې ځمکني حرکتونه له يو ځای څخه بل ځای ( اپرون يا ترمينل )ته خوندي او اغيزمنوي.

دا چې ترمينل پر دوه ډوله دی (د داخلي الوتنو ترمينل او د نړيوالو الوتنو ترمينل) او د هغوی ځانگړتياوې څه دي او په ترمينل کې د مسافرو لپاره مهمې لاربښوونې څه دي دا ټول به په راتلونکې گڼه کې تاسو ته وړاندې شي، ان شاءالله.

**احمد ياسر لودين (د هوايي چلند د اطلاعاتو مدير)**



# که تندر الوتکې سره ولګېږي څه به پېښ شي؟

که تاسو په الوتکه کې د الوتنې پر مهال د تندر ټکر تجربه کړی وي، حتماً به مو هغه وېره تر اوسه هم په زړه کې وي. د تندر سره د الوتکې د ټکر پر وخت ټول مسافر او د الوتکې عمله یو ډېر لوړ او وېروونکی غږ اوري، چې کېدای شي په هغه وخت فکر وکړي چې الوتکه سوری ـ شوې او یا یې اور اخیستی؛ خو پوښتنه دا ده چې ایا د تندر ټکر دومره خطرناک دی، لکه څومره چې وېروونکی دی؟

تاسې به کرار په خپل ځای کې ناست وی، ویده به وی او یا به کتاب لولی، چې ناڅاپه اسمان کې پرک شي او د تندر کرښه د الوتکې سره ټکر وکړي، واقعاً چې دا یوه ډېره د اندېښنې وړ او ویرووونکې شېبه ده، تاسې به خامخا پوه شی چې د هوا حالاتو له امله تندر له الوتکې سره لګېدلی دی. ایا په رښتیا دا پېښه د اندېښنې وړ او وېرووونکې ده؟

په عمومي ډول، تندر لومړی د الوتکې له بدن لکه د وزر له سر یا د الوتکې له پوز سره ټکر کوي او جریان یې د فلزي بدن له لارې تېرېږي، د پیلوټ او لیکوال (پاتریک سمیت) په وینا: تندر له الوتکې سره تر هغه ډېر ټکر کوي، څومره چې تاسو فکر کوی.

ویلی شو چې یوه عادي مسافر وړونکې الوتکه په منځنۍ ډول په هرو دوو کلونو کې یو ځل له تندر سره ټکر کوي او الوتکې هم له همدې اصولو سره سمې جوړې شوې دي.

کله ناکله د الوتکې په بهرني پوښ کې یو څه زیان رامنځته کېږي او شاید د هغې برېښنایي سیستم ته هم لږ زیان واوړي؛ خو په ډېرو مواردو کې تندر هېڅ نښه نه پرېږدي؛ حتی تاسو یې شاید هېڅ احساس هم نه کړی.

پروفیسور مامو حداد (Mamu Haddad)چې د کارډیف پوهنتون د مورګان-بوتي د تندر ازموینښتي استاد او مدیر دی او د الوتکو جوړولو کې د تندر په پوهاوي کې کار کوي، په دې اړه وضاحت ورکوي، چې دا ټکرونه معمولاً هغه وخت رامنځته کېږي، چې یوه الوتکه د کومه‌ای‌بارا کومه‌یي وریځې، چې کومولوس (cumulus) هم ورته ویل کېږي، سپینې وریځې دي، چې په ټیټه ارتفاع کې جوړېږي. دغه وریځې سره غونډې او د سپینې پنبې په څېر وي، چې په فضا کې په روښانه ډول ښکارېږي او که د هوا شرایط مناسب وي، دا وریځې په لویو باران راوړونکو وریځو بدلېدای شي. (Cumulonimbus[1])وریځو له منځه او له ځمکې څخه د ۲ تر ۵ کیلومترو په فاصله کې تېره شي. پروفیسور حداد هم د پاتریک سمیت په څېر باور لري چې په دې شرایطو کې مسافرین او د الوتکې عمله باید هیڅ ډول اندېښنه و نه کړي. تندر کولای شي تر ۲۰۰ زره امپېره پورې ځواک ولري. په ځینو مواردو کې تاسو ښایي یو کمزوری غږ واوری یا د الوتکې بهر یوه رڼا ووینی؛

[1] ـ کومه‌یي وریځې، چې کومولوس (cumulus) هم ورته ویل کېږي، سپینې وریځې دي، چې په ټیټه ارتفاع کې جوړېږي. دغه وریځې سره غونډې او د سپینې پنبې په څېر وي، چې په فضا کې په روښانه ډول ښکارېږي او که د هوا شرایط مناسب وي، دا وریځې په لویو باران راوړونکو وریځو بدلېدای شي.

خو په ډېرو شرایطو کې به تاسو هېڅ احساس ونه کړی. د الوتکې هغه برخه چې تندر ورسره لگېږي، ښايي يو څه لږه خرابه شي؛ خو د هوايي چلند صنعت په دې برخه کې ډېر احتياط کوي او د الوتکې لومړنۍ ازمويني ډېرې جدي او دقيقې وي، تر څو مسافر په داسې شرايطو کې د هېڅ ډول خطر سره مخامخ نه شي.

## د تندر له کبله رامنځته شوې پېښې:

لکه څنگه چې مو وويل، تندر ډېرى وخت له الوتکې سره ټکر کوي، يوازې له ورې نښې پرېښودو پرته کومه لويه ستونزه نه پېښوي؛ خو په تاريخ کې د تندر له کبله ځينې ناوړه پېښې هم رامنځته شوې دي، د ۲۰۱۴ز کال په جنوري کې د Intan Angkasa Air يوې کوچنۍ الوتکې د تندر لگېدو له کبله سقوط وکړ او پکې سپاره څلور کسان ټول په همغه شېبه ووژل شول.

په ۲۰۱۰ ز کال يوه بوينگ ۷۳۷-۷۰۰ الوتکه له باگوتا څخه د روانېدو پر مهال له تندر سره ولگېده، چې په درې برخو ووېشل شوه او په سن اندريس ټاپوگانو کې ولوېده، چې په دې پېښه کې ۲ کسان ووژل شول. په هغه وخت کې د هوايي چلند کارپوهانو احتمال دا و، چې د دې پېښې اصلي لامل تندر نه؛ بلکې د باد لوري ناڅاپي او چټک بدلون او تندر دواړو په گډه د الوتکې د غورځېدو لامل شوی وي. يوه بله ناوړه پېښه چې د ۸۱ کسانو د مړينې سبب شوه، په ۱۹۶۳ز کال کې رامنځته شوه. دا پېښه چې د متحده ایالاتو په مريلينډ ايالت کې رامنځته شوه، تندر د الوتکې له وزر سره په لگېدو اور واخېست او بوينگ ۷۰۷ الوتکه ولوېده.



پاتريک سميت، چې له تندر سره يې نږدې تجربه درلوده، هغه مهال چې د ۳۷ څوکيو لرونکې يوې الوتکې کپتان و.داسې وايي:

تندر له يوې کوچنۍ کومه اي بارا(Cumulonimbus) وريځې پيل شو او د الوتکې پر مخ يا پوز ولگېد؛ خو هغه څه چې موږ احساس کړل او واورېدل، يوازې له يوه کوچني تندر له اواز يو څه لوړ و، د خطر هېڅ څراغ نه شو روښانه او هېڅ جنراتور يې نه شو خراب، په هغه شېبه کې زموږ خبرې له دې څو جملو زياتې نه وې:

- دا څه شی وو؟
- نه پوهېږم
- تندر؟؟؟
- ممکن!






د الوتکې انجنير وروسته د الوتکې پر مخ يوازې يوه کوچنۍ توره نښه پيدا کړه.

عموماً، کله چې الوتکه له تندر سره ولگېږي، احتياطي اقدامات ترسره کېږي او الوتکه په بشپړه توگه معاينه کېږي. که الوتکه بل پرواز هم ولري، معمولاً الوتنه ځنډول کېږي او يا مسافر بلې الوتکې ته لېږدول کېږي.



# آلودگی هوا یکی از عوامل اصلی مرگ‌ومیر در جهان

**آلودگی هوا چیست؟**

آلودگی هوا ترکیبی از مواد خطرناک، آلاینده‌های طبیعی و مصنوعی است. این آلودگی شامل ذرات معلق، فلزات سنگین مانند سرب و گازهای سمی است که غلظت آن‌ها به سطحی رسیده که می‌تواند برای سلامتی انسان‌ها مضر باشد.

**آثار آلودگی هوا بر سلامتی**

آلودگی هوا به‌مرورزمان بیماری‌های جدی مانند بیماری‌های قلبی و عروقی، مشکلات تنفسی و سرطان‌های مختلف ایجاد می‌کند. کودکان، زنان باردار و سالمندان بیشتر در معرض آسیب‌های ناشی از آلودگی هوا قرار دارند. این آلودگی می‌تواند باعث مسمومیت شش‌ها، افزایش فشارخون و حتی سکته‌های قلبی و مغزی شود.

**عوامل آلودگی هوا**

۱. **داخلی:** استفاده از بخاری، آشپزی با سوخت‌های غیرمعیاری، و سیگارکشیدن در محیط بسته.

۲. **خارجی:** گازهای گلخانه‌ای، دود وسایل نقلیه قدیمی، سوخت زغال‌سنگ و تیل، گردوغبار و آتش‌سوزی‌های عمدی یا طبیعی.



## علائم مسمومیت ناشی از آلودگی هوا

سوزش چشم‌ها، خشکی پوست، مشکلات تنفسی مانند آسم و افزایش خطر ابتلا به بیماری‌های قلبی از جمله علائم رایج هستند. همچنان، آلودگی هوا می‌تواند باعث کاهش مقاومت بدن در برابر عفونت‌ها شود.



## تأثیرات بر محیطزیست

آلودگی هوا باعث کاهش رشد گیاهان، میوه‌دهی درختان، و تغییر شکل برگ‌ها می‌شود. باران‌های اسیدی ناشی از آلودگی نیز به کاهش کیفیت خاک و منابع آبی منجر می‌شود.

## پیشگیری و کاهش آلودگی هوا

- استفاده از وسایل نقلیه عمومی و کاهش استفاده از وسایط شخصی
- آموزش عمومی درباره مضرات آلودگی هوا و راهکارهای کاهش آن
- افزایش فضای سبز و کاشت درختان
- استفاده از سوخت‌های پاک و انرژی‌های تجدیدپذیر
- نصب فیلترهای دود در کارخانه‌ها و منازل

تهیه کننده: داکتر محمد مهدی "قاسمی"



# GPS سیستم
## د پرمختګ په لور یو ستر ګام

په پخوا زمانه کې به چې کله خلک بهر ته په کوم سفر تلل؛ نو د دې لپاره چې دوی خپله لار غلطه نه کړي، بېلابېلې طریقې به یې کارولې. ځینې له دغه طریقو څخه د نقشې استعمال، کمپاس او یا به یې د ستورو په مرسته لارې پیداکولې او خپل منزل ته به یې په همدې طریقه ځان رساوه.

خو اوس ۲۱ پېړۍ ده، حالات بدل شوي دي، په نړۍ کې د موقعیت معلومولو بېلابېل سیستمونه موجود دي، چې ډېر مشهور یې (GPS) سیستم دی. دا سیستم د یوې کوچنۍ او ارزانه الې په مرسته کولای شي ستاسو موقیعت معلوم کړي. دغه اله (GPS) یا (Global Positing System) ده چې ستاسې موقیعت د نړۍ په هر ګوټ کې در په ګوته کوي. په حقیقت کې فضایي سیستم له ۲۷ سپوږمکیو (سټلایټونو) څخه جوړ دی، چې۲۴ یې موږ ته موقیعت ښیي او ۳ سټلایټونه یې د دې لپاره فعال وي، که په دغه ۲۴ سټلایټونو کې کومه ستونزه پېښه شي پاتې ۳ سټلایټونه یې ځای نیسي.

نوموړی سیستم د لومړي ځل لپاره په ۱۹۷۳ز کال کې په کار پیل او په ۱۹۹۵ز کال جوړ شو. په۱۹۹۶ز کال په نقلیه وسایطو کې استعمال او په ۲۰۰۰ز کال د عامو خلکو د استفادې وړ وګرځېد. د جي پي اېس دنده دا ده، چې د سټلایټونو سره ځان د راډیویي څپو په واسطه وصل کوي او د دریې بعدي ټرای لاټرېشن (Trilateration) الجبري قاعدې نه په ګټه‌اخیستنې خپل موقیعت معلوموي. د دې لپاره چې د جي پي اېس اله موږ ته خپل موقیعت وښیي، باید له څلورو سټلایټونو څخه معلومات (سیګنال) راشي، ترڅو موږ ته موقیعت وښیي. دغه اله په موبایلونو، کمپیوټرونو، موټرو، بې پیلوټه الوتکو او پوځي وسایطو کې نصب شوې او پرته له دې چې کارونکی په ځان پوه شي، موقیعت او ادرس یې په نښه کوي او د مصنوعي سپوږمکیو له لارې یې اړوند مرکز ته لېږي.

**د موقیعت پېژندني سیستم (GPS) له دریو اساسي برخو څخه تشکیل شوی دی:**

1 -مصنوعي سپوږمکۍ.

2 - په ځمکه د تعقیب، کنټرول او معلوماتو د تحلیل ماشینونه.

3 -مصنوعي سپوږمکۍ ته معلومات (سیګنال) ورکونکي الې.



که دا سیستم په موټر کې ولګول شي، د موټر څښتن کولای شي، چې د خپل موټر سرعت، مسیر ،چالان، بند، ولاړ، روان او د تېلو اندازه د موبایل له لارې معلومه کړي او هم کولای شي چې د خپل موبایل پروګرام له لارې همدا موټر بند او یا چالان کړي د همدې الې په واسطه موږ کولای شو، چې خپل وسایط په یوه خاصه سیمه کې لکه کلی، ولسوالۍ او یا ولایت کې احاطه کړو، ترڅو څوک ونشي کولای موټر له همدې احاطې څخه وباسي. هر کله چې وسایط د خپلې احاطه شوې ساحې څنډې ته ورسېږي؛ همغه ځای بندېږي او درېږي. د موټر د ورکېدو یا په زور اخېستلو په صورت کې د خپل موبایل پروګرام له لارې کولای شو، چې پولیسو ته د هغه موقیعت وښیو. که د همدې الې د فعالیت لوېدلو لپاره کوم لین قطع کړل شي، د موټر مکمل برېښنا پرې کېږي او بیا نه چالانېږي، سره له دې که د موټر برېښنا پرې شي، دا اله په خپل ځان کې یوه بېټرۍ لري چې تر ۸ ورځو پورې موږ ته د موټر د موقیعت په باره کې معلومات راکوي. نوموړی سیستم له سل سلنه انټرنېټ څخه پرته کار کوي، مګر په انټرنېټ ډېر ښه او ډاډمن کار کوي. هیڅ ډول اقلیمي اړیکه نه لري په هر ډول اقلیم کې د ګټې اخیستنې وړ دی، د لنډ موقعیت ښوونکی دی،د هوا اټکل معلومولی شي او د سروې کولو تر څنګ په ځینو نورو برخو کې هم ترې ګټه اخېستل کېږي. ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د (۲۸/۱۱/۱۴۴۳ل) نېټې د کابینې تصویب شوې پرېکړې پر بنسټ، د هېواد په نقلیه وسایطو کې د GPS سیستم د تطبیق طرحه وړاندې شوې وه. په دې طرحه کې د ټرانزیټي او داخلي موټرو لپاره د GPS سیستم نصبولو دوې برخې شاملې دي. تر اوسه د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د ټرانزیټي موټرو لپاره د GPS سیستم تطبیق په برخه کې له یوه شرکت سره قرارداد کړی دی، چې یاد سیستم په موټرو کې نصبوي. همدارنګه د داخلي موټرو لکه بسونو، ټکسیو، رکشو او لارۍ موټرو لپاره له څلورو شرکتونو سره تړونونه شوي دي، چې د ټول افغانستان په کچه د نقلیه وسایطو لپاره د GPS سیستم نصبولو چارې پرمخ وړي. له نېکه‌مرغه تر دې دمه د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت شاوخوا ۶۰۰۰ نقلیه وسایطو ته د GPS سیستم نصب کړی دی. دغه نوښت د نقلیه وسایطو د مدیریت او د ټرانسپورټي خدمتونو د ښه‌والي لپاره مهم ګام دی. د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د دې پروسې د لا چټکتیا او پرمختګ لپاره په هڅه کې دی چې نور شرکتونه هم د دې پروسې په پلي کولو کې شامل کړي. تمه ده چې دغه پروژه په چټکۍ او غوره توګه بشپړه شي، ترڅو د هېواد په ټرانسپورټي سیستم کې لا زیات شفافیت او اغېزمنتیا رامنځته کړي.

**لیکنه: سید احسان‌الله اغا**





# واخان د افغـانستان او چــین
## ترمنځ لنډ او اقتصادي دهلېز

افغانستان په وچه کې ایسار (Land-locked) غرنی هیواد دی چې سمندر سره مستقیمه اړیکه نلري. دا هېواد د ترکمنستان سره شاوخوا (۸۷٤ کیلومتره)، ازبکستان سره (۱٤٥)، تاجکستان سره (۱۳٦۰)، چین سره (۹٦)، پاکستان سره (۲٦٤۰) او ایران سره (۹۲٥) کیلومتره پوله لري. له دې امله افغانستان د خپلو وارداتو او صادراتو لپاره په عمده توگه له گاونډیو او سیمې له هېوادونو سره تړلی دی. په داسې حال کې چې سمندري ټرانسپورټ نلرو او هوایي کارگو  گرانه پرېوځي؛ نو ځمکنۍ ټرانزېټي لارې زموږ لپاره تر ټولو مناسب او وړ انتخاب دی.

اوس مهال د افغانستان او چین ترمنځ سوداگري له اوږدو لارو لکه د پاکستان کراچۍ او گوادر بندرونو، د ایران له چابهار بندر او همدارنگه د هوایي دهلیزونو او د منځنۍ اسیا له ټرانزیټي لارو ترسره کېږي. دا لارې نه یوازې اوږدې دي بلکې وخت او لگښت هم ورسره زیاتېږي. په داسې حال کې چې د افغانستان او چین ترمنځ ترټولو لنډه او ارزانه لار د بدخشان ولایت واخان دهلېز دی.

واخان د بدخشان ولایت په شمال ختیځ کې د یوې ولسوالۍ نوم دی، چې مرکز یې خاندود نومېږي. دا سیمه د افغانستان او چین ترمنځ نښلېدونکې یوازینۍ ځمکنۍ لاره ده، چې اوږدوالی یې ۳٥۰ کیلومتره او پلنوالی یې له ۱۳ تر ٦٥ کیلومترو پورې رسېږي. په پخوانیو وختونو کې دا لاره د چینایي سوداگریزو کاروانونو لپاره یو مهمه او غوره لاره وه، چې اروپا ته یې سوداگریز توکي وړل. د کوشانیانو په زمانه کې هم واخان د سوداگریز تگ راتگ یو مهمه نقطه وه، چې د روم او چینایي سوداگرو لپاره ډېره د باور وړ لاره وه.



# د واخان دهلیز پرانیستل اقتصادي او ستراتیژیکه ګټه:

د افغانستان لپاره د بدیلو ټرانزیټي لارو جوړول یوه مهمه اقتصادي اړتیا ده او واخان دهلېز کولی شي زموږ سوداګریزې او اقتصادي اړیکې له چین سره نږدې کړي او سوداګري ورسره په پراخه اندازه زیاتوالی پیدا کړي. دا لاره د سیمې او نړۍ په کچه یو ستراتیژیک اهمیت لري؛ ځکه چې له دې لارې به افغانستان د چین له لوی اقتصادي مارکېټ او نړیوالو بازارونو سره ونښلول شي. له دې سره به زموږ صادرات او واردات په خورا کم لګښت او کم وخت کې ترسره شي. د هر کانټینر کرایه به د دوو زرو ډالرو په اندازه کمه شي او د توکو د لېږد وخت به له شپږو میاشتو څخه دوه اونیو ته راکم شي.

د واخان لارې رغول به نه یوازې اقتصادي پرمختګ راولي؛ بلکې د سیمې هېوادونو په نږدې کولو کې به هم مهم رول ولوبوي. دا پروژه به په سیمه کې د افغانستان د ستراتیژیک رول د زیاتولو لپاره یو مهم ګام وي او زموږ اقتصادي غوړېدا ته به یوه نوې لار پرانیزي.

د واخان لارې پرانیستل به د افغانستان لپاره نه یوازې اقتصادي بلکې ټولنیز او صنعتي پرمختګونه راولي. د سړکونو، پلونو او نورو زیربینایي تاسیساتو جوړول به په سیمه کې پرمختګ ته لاره هواره کړي. له دې سره به د چین تولیدات په لږ وخت او کم لګښت سره زموږ بازارونو ته راورسیږي، چې له سره به د توکو په بیو کې د پام وړ کموالی راشي او د خلکو لپاره به د کاري فرصتونو په زیاتوالي کې څرګندې پایلې ولري.

د واخان دهلېز رغول به د افغانستان لپاره یوه حیاتي او ستراتیژیکه پروژه وي، چې د سیمې په کچه د مهمو نښلونکو لارو څخه شمېرل کېږي. له دې لارې به افغانستان له نړۍ سره په یو مهم سوداګریز مرکز بدل شي او د اقتصادي ودې لپاره به یو ستر بنسټ وي.

**لیکنه: عثمان غني عابد**











د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د ۱۴۰۳ ل کال په درېيمه ربع کې چې کومې کړنې او لاسته راوړنې ترسره شوې دي، ځينې يې دلته لوستلی شئ!

# فعالیت‌ها و دست‌آورد ها

- تلاش‌ها برای ایجاد تأسیسات ترانسپورتی در ولایات
- برنامه های آموزشی در وزارت ترانسپورت و هوانوردی
- پیشرفت‌های به میان آمده در خدمات ترانسپورتی افغانستان
- انتقال رایگان و مصؤن مهاجرین افغان

# د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت
# وزارت ترانسپورت و هوانوردی









## کړنې او لاسته راوړنې

- د هوايي چلند پرمختګونه او د نړیوالو الوتنو پراختیا.
- د ټرانسپورټي اړیکو په پراختیا مهمې ناستې او هڅې.
- په تېرو درېیو میاشتو کې د ټرانسپورټي شرکتونو فعالیتونه.
- د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت زده کړیالانو مخابرې جوړې کړې.
- د ټرانسپورټي تاسیساتو پراختیا.
- د درېیو میاشتو په موده کې د ځینو ترسره شویو غونډو، لیدنو او کړنو لنډ خبرونه.



# د هوايي چلند پرمختګونه او د نړیوالو الوتنو پراختیا

هوايي چلند د یوه هېواد د اقتصادي، سیاسي او ټولنیز پرمختګ لپاره د اهمیت وړ برخه ده. له فتحې څخه وړاندې کلونو کې د افغانستان هوايي ډګرونه د جګړو او ناسم مدیریت له امله له ګڼو ستونزو سره مخ وو؛ خو اوس د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په هڅو سره د دې برخې د بیارغونې او پراختیا لپاره پرلهپسې ګامونه اخیستل شوي دي. دغه هڅې د افغانستان د هوايي چلند سکټور د یوه روښانه راتلونکي خبر ورکوي.

## احمد شاه بابا نړیوال هوايي ډګر کې د پراختیا پروژه:

په کندهار کې د احمد شاه بابا نړیوال هوايي ډګر رمپ پراختیا او بیارغونې پروژه د ۹۱ میلیونه افغانیو په ارزښت د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د هوايي چلند عملیاتي معین الحاج مولوي فتح الله منصور او د کندهار ولایت مرستیال والي ملا محمد صادق انقلابي په حضور کې پیل شوه. دغه پروژه، چې په لسو میاشتو کې به بشپړېږي، د کندهار هوايي ډګر ظرفیت به زیات کړي او د نړیوالو معیارونو مطابق به د الوتکو لپاره اسانتیاوې رامنځته کړي. د کندهار هوايي ډګر د ستراتیژیک موقعیت له امله د سوداګریزو الوتنو او کرنیزو محصولاتو د لېږد لپاره ډېر مهم هوايي ډګر ګڼل کېږي.

## د لښکرګاه هوايي ډګر بیارغونه:

د هلمند ولایت لښکرګاه هوايي ډګر د چاپېرېدونکي دېوال (فېنس) جوړولو، رمپ او ځغاستلېکې د بیارغونې چارې د څه کم اته میلیونه افغانیو په ارزښت پیل شوې دي. دا پروژه د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت تر څارنې لاندې په چټکۍ سره روانه ده او د هوايي ډګر امنیت او د خدمتونو پراختیا لپاره بنسټیز ګام بلل کېږي. د دېوال جوړول نه یوازې د هوايي ډګر فزیکي امنیت ټینګوي، بلکې د راتلونکو پراختیايي پروژو لپاره یوه اساسي اړتیا هم ده.








## ایران ایر تور هوایي شرکت د کابل پر لور:

د ایران ایر تور هوایي شرکت په لومړي ځل کابل ته خپلې الوتنې پیل کړې. یاد شرکت، چې له ۵۰ کلونو راهیسې فعالیت کوي، د ایران له مشهد او تهران ښارونو څخه به په اونۍ کې دوه مخامخ الوتنې کابل ته ترسره کوي.

د یاد شرکت مسئول محمدرضا صابري په خپلو خبرو کې وویل:« موږ خوښ یو چې د دواړو هېوادونو تر منځ د اقتصادي ودې او فرهنګي اړیکو د پیاوړتیا په پار افغانستان ته خپلې الوتنې پیلوو»

د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت ژمن دی، چې د نړیوالو معیارونو سره سم د هوایي چلند خدمتونه وړاندې کوي. د کابل نړیوال هوایي ډګر رئیس مولوي عبدالهادي محمد په خپلو خبرو کې وویل: «موږ له هرې ممکنې لارې هڅه کوو، چې د الوتنو امنیت او خوندیتوب ډاډمن کړو» دا د ایران او افغانستان تر منځ پنځم هوایي شرکت دی چې افغانستان ته د مسافرو د لېږد خدمتونه ترسره کوي.

افغانستان ته د ایران‌ایر تور هوایي شرکت د الوتنو پیل د ایران او افغانستان ترمنځ د سوداګریزو او سیاحتي اړیکو د پراختیا لپاره یو مهم ګام ګڼل کېږي.

## د افغـانسـتان او قطـر تـر منځ هوایي هوکړه:

د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت د واټ ټرانسپورټ معین الحاج ملا عبدالسلام حیدري او د قطر هوایي چلند اداري سرپرست محمد فالح الهاجري تر منځ یو مهمه هوکړه لاسلیک شوه. دا هوکړه دواړو هېوادونو ته اجازه ورکوي، چې د مستقیمو الوتنو ترڅنګ د ټرانزیټي مسافرو لپاره هم اسانتیاوې برابرې کړي او د دغې هوکړې له مخې به افغانستان د نړیوالو ټرانزیټي لارو سره لا زیات ونښلول شي او د سوداګریزو الوتنو لپاره به یوه نوې دروازه پرانیستل شي.




## له خوست څخه سعودي عربستان ته مخامخ الوتنې:

د خوست نړیوال هوايي ډګر څخه سعودي عربستان د جدې ښار ته د مخامخ الوتنو پیل یو مهم پرمختګ دی چې د کام ایر هوايي شرکت لهخوا ترسره کېږي.

له دې وروسته به د یاد هوايي ډګر څخه په اونۍ کې یوه الوتنه ترسره کېږي، چې له یوې خوا به د حج او عمرې سفرونو لپاره اسانتیاوې رامنځته کړي او له بلې خوا به د سیمې اقتصادي ودې ته پراخه زمینه برابره کړي. د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت هڅه کوي، چې د اړتیا پر اساس د دغو الوتنو لړۍ لا وغځوي او د افغانستان له نورو ولایتونو څخه هم ورته اسانتیاوې برابرې کړي.






## د کرنیزو محصولاتو لېږد لپاره ناستې او همغږي:

د افغانستان د تازه میوو او کرنیزو محصولاتو د لېږد په تړاو د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د آریانا افغان او کام ایر هوايي شرکتونو استازو سره مهمې ناستې ترسره کړې. دې ناستو کې د کرنیزو محصولاتو د پر وخت لېږد لپاره ګټورې لارې چارې وړاندې شوې، چې نړیوالو بازارونو ته د افغان محصولاتو رسېدو بهير چټک او اغېزمن کړي.

## د کابل او دوحې ترمنځ مخامخ الوتنې پیل شوې:

په ۱۴۰۳ل کال د لیندۍ میاشتې په ۲۹ نېټه د کام ایر هوايي شرکت له لورې د کابل او دوحې ترمنځ مخامخ الوتنې پیل شوې. دغه الوتنې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سفرونو لپاره لویه اسانتیا رامنځته کوي او هره اونۍ به درې الوتنې ترسره کېږي. د دې الوتنو سره به د مسافرو وخت او لګښت کم شي او ورسره به په سوداګرۍ کې د پام وړ اسانتیاوې رامنځته شي.





## په ازبکستان کې د هوا پېژندنې په غونډه کې ګډون:

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د هوايي ډګرونو لوی رئيس الحاج عبدالستار غروال او د هوا پېژندنې رئيس په ګډون د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت يو پلاوی ازبکستان هېواد ته د سفر په ترځ کې د هوا پېژندنې په يوه مهمه غونډه کې ګډون وکړ.
په دې غونډه کې چې د بېلابېلو وزارتونو استازو پکې ګډون درلود، د هوا پېژندنې تجهيزاتو، سپوږمکۍ ته د لاسرسي، د طبيعي آفتونو د خطر کمولو او نورو اړوندو موضوعاتو په اړه خبرې وشوې.
د دې سفر موخه د نړيوالې همکارۍ پراختيا او د افغانستان د هوايي چلند په سکتور کې د تخنيکي پرمختګونو لپاره نوي فرصتونه رامنځته کول دي.
د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په پرله‌پسې هڅو سره د هوايي چلند سکټور د بيارغونې او پراختيا په لور روان دی. د لښکرګاه او کندهار هوايي ډګرونو بيارغونه، له خوست څخه سعودي عربستان ته الوتنې، د ايران او قطر سره هوکړې او نړيوالو معيارونو ته د هوايي چلند برابرول، ټول هغه ګامونه دي چې افغانستان به د يو پرمختللي او متحرک هوايي سيستم خاوند کړي. دا پرمختګونه به نه يوازې د مسافرو لپاره اسانتياوې رامنځته کړي، بلکې د سوداګرۍ او اقتصاد په برخه کې به د هېواد راتلونکی هم روښانه کړي.





# د ټرانسپورټي او ټرانزيټي اړيکو پراختيا لپاره اغېزمنې هڅې

ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د هېواد د ټرانسپورټي او ټرانزيټي اړيکو د پراختيا په برخه کې تل پراخې هڅې کړي. په دې لړ کې د درېيو مياشتو په موده کې د سيمې او نړۍ له مهمو هېوادونو سره د سوداګريزو او ټرانسپورټي اړيکو د پراختيا او د سيمه‌ييزې همکارۍ پياوړتيا په تړاو ناستې او ليدنې ترسره کړې دي.




## د ترکيې سفير سره ليدنه او د لاجوردو لارې د بيا فعالولو خبرې:

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست الحاج ملا حميدالله اخندزاده د ترکيې سفير جنک اونال سره په خپل کاري دفتر کې ناسته وکړه. په دې ناسته کې د افغانستان او ترکيې تر منځ د دوه اړخيزو ټرانزيټي اړيکو د پراختيا، د لاجوردو لارې د بيا فعالولو او د هوايي چلند د پياوړتيا پر مهمو مسائلو بحث وشو.

د ترکيې سفير ژمنه وکړه چې د افغانستان او ترکيې تر منځ د ځمکني ټرانسپورټ د پراختيا لپاره به هڅې وکړي او په دې برخه کې به د هر اړخيزې همکارۍ ملاتړ وکړي.

## د ايران سيستان او بلوچستان والي سره د ټرانسپورټي اړيکو پراختيا:




د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست الحاج ملا حميدالله اخندزاده په کابل کې د ايران سيستان او بلوچستان والي ښاغلي محمد کرمي او مل پلاوي سره ناسته ترسره کړه. په دې ناسته کې د دواړو هېوادونو تر منځ د ټرانسپورټي او ټرانزيټي همکاريو پر پراختيا، د چابهار بندر له لارې د انتقالاتو پر زياتوالي او د ټرانسپورټي شرکتونو او موټر چلوونکو لپاره د اسانتياوو په برابرولو خبرې وشوې. دا ناسته د ايران او افغانستان تر منځ د ټرانسپورټ په برخه کې د لا پراخې همکارۍ لپاره خورا مهمه ګڼل کېږي.

## د چين سفارت له مرستيال سره د ټرانسپورټي اړيکو پراختيا لپاره ناسته

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د ټرانسپورټي قوانينو او معاهداتو رئيس يار محمد رمضان په کابل کې د چين سفارت مرستيال باو شيوني سره د دواړو هېوادونو تر منځ د ټرانسپورټي اړيکو د پراختيا، د تير (TIR) سيسټم له لارې د توکو لېږد رالېږد او د ټرانسپورټي همکارۍ د پياوړتيا پر مهمو اړخونو خبرې وشوې. د يادې ناستې په ترڅ کې دواړو لوريو هوډ څرګند کړ، چې د ټرانسپورټ په برخه کې د ګډو هڅو له لارې به د سوداګرۍ اسانتياوې ډېروي او د سيمه‌ييزې همکارۍ لپاره به نوي فرصتونه رامنځته کوي.

## د قزاقستان ټرانسپورټي چارواکو سره پرليکه ناسته

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د ټرانسپورټي قوانينو او معاهداتو رئيس يار محمد رمضان په مشرۍ د قزاقستان د ټرانسپورټ مسئولينو سره انلاين ناسته ترسره شوه. په دې ناسته کې د دواړو هېوادونو تر منځ د ټرانسپورټي تګ راتګ پيل، د افغان لاريو لپاره قزاقستان هېواد ته د توکو د لېږد رالېږد پر اسانتياوو او د ګډو ټرانسپورټي ګټو په اړه خبرې وشوې. ياده ناسته د افغان سوداګرو لپاره د نوو فرصتونو پرانيستل او د سيمه‌ييزې سوداګرۍ د پراختيا په برخه کې يوه مهمه لاسته راوړنه ګڼل کېږي.

## د هوايي چلند عملياتي معين او د ترکيې علماوو تر منځ ليدنه ترسره شوه

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د هوايي چلند عملياتي معين الحاج مولوي فتح‌الله منصور د ترکيې د علماوو له يو شمېر ديني علماوو سره چې مشري يې شيخ محمد توران کوله، په خپل کاري دفتر کې ليدنه ترسره کړه.
په دې ناسته کې شيخ محمد توران، چې د ترکيې د علمای کرامو استازولي يې کوله، د افغانستان د اسلامي امارت د هڅو او لاسته راوړنو د ستاينې په ترڅ کې څرګنده کړه چې د ترکيې خلک او علما تل د افغانستان په اسلامي امارت باور لري او د اسلامي نظام د بريا او پرمختګ لپاره د هر ډول همکارۍ لپاره چمتو دي. هغه زياته کړه چې د ترکيې ولسونه افغانستان ته د يو داسې هيواد په سترګه ګوري چې اسلامي ارزښتونو ته ژمن دی. يادو علماوو په خپلو خبرو کې زياته کړه چې موږ به ترکي پانګه‌وال دې ته وهڅوو، تر څو په افغانستان کې په بېلابېلو برخو کې خپله پانګونه وکړي. مولوي فتح الله منصور د ترکيې د علماوو دغه هيئت ته د زړه له تله هرکلی ووايه او د دوی د همکاريو او ملاتړ څخه يې مننه وکړه. نوموړي د ترکيې د علماوو او ولس ملاتړ يو مهم ګام وباله او ټينګار يې وکړ چې اسلامي امارت د دواړو هېوادونو د ګډو ګټو په پام کې نيولو سره غواړي چې دا اړيکې لا پياوړې او پراخې کړي، ځکه افغانستان او ترکيه اوږدې کلتوري اړيکې لري او معين صاحب نوموړو علماوو ته وويل چې زموږ نېک پيغام د ترکيې ولسونو ته ورسوئ. دا ليدنه د افغانستان او ترکيې د اسلامي علماوو تر منځ د نږدې اړيکو او د افغانستان اسلامي امارت سره د بشپړ ملاتړ ښکارندويي کوي او په پای کې ژمنه وشوه چې د دواړو خواوو تر منځ به همکاري او اړيکې لا پراخوي او په بېلابېلو برخو کې به خپلمنځي همکارۍ ته دوام ورکوي.



## له ترکمنستاني چارواکو سره د ټرانسپورټي اسانتیاوو په تړاو خبرې



د واټ ټرانسپورټ معین الحاج ملا عبدالسلام حیدري چې د اسلامي امارت له ګډ پلاوي سره د ټاپي پروژې د رغنیزو چارو د لیدنې لپاره ترکمنستان هېواد ته تللی و، د دې هېواد د بهرنیو چارو له وزیر رشید مردوف سره د ټرانسپورټي اسانتیاوو په اړه مهمې خبرې وکړې. په دې لیدنه کې د افغان موټر چلوونکو لپاره د وېزو د ورکړې د پروسې ساده کولو او د دواړو هېوادونو ترمنځ د ټرانسپورټي اسانتیاوو په رامنځته کولو او نورو اړوندو موضوعاتو بحث وشو. دواړو لوریو په دې اړه ژمنه وکړه چې د راتلونکې میاشتې په ترڅ کې به د دواړو هېوادونو تخنیکي هیئت په پلازمېنه کابل کې غونډه وکړي او د یادو موضوعاتو د حل لپاره به ګډې هڅې جاري وساتي.

ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په بېلابېلو ناستو کې تل هڅه کړې چې د افغانستان د ټرانسپورټي اړیکو پراختیا، د سوداګرۍ اسانتیاوې او د سیمه‌ییزې همکارۍ نوي فرصتونه رامنځته کړي. د دې هڅو په پایله کې به افغانستان د یوه معیاري ټرانسپورټي سیستم څښتن شي، چې نه یوازې د خلکو ورځنۍ ژوند به اسانه کړي، بلکې د سیمه‌ییزې سوداګرۍ او اقتصادي پرمختګ لپاره به هم پراخ فرصتونه برابر کړي.



# برنامه‌های آموزشی در وزارت ترانسپورت و هوانوردی

اگر به توسعه و ساختار یک ملت آگاه نگاه کنیم، ارتقای مهارت کارکنان مهم‌ترین رکن است. وزارت ترانسپورت و هوانوردی اخیراً یک تعداد برنامه‌های آموزشی را برای کارمندان و نمایندگان سکتورهای مرتبط به راه انداخته است که به تسهیل امور اداری کمک می‌کند و فصل جدیدی از توسعه و شفافیت را می‌گشاید.

## ساده‌سازی فرایند اداری

از سوی وزارت ترانسپورت و هوانوردی برای برخی کارمندان سمینار ارائه شد که در آن برای اشتراک کنندگان پیرامون دستورالعمل‌های ساده‌سازی فرایند در مدیریت املاک و دیگر موضوعات مرتبط معلومات داده شد که در سرعت بخشیدن امور کارکنان نقش مهمی خواهد داشت.

## آموزش کارمندان جدید

گامی که اخیراً برای کارمندان جدیدالتقرر برداشته شد، ارائه سمینارها در مورد اصول اداری و مدیریت بود که به هدف آموزش مهارت‌های موردنیاز برای یک مدیر یا کارمند موفق در وظایف مربوطه به کارمندان جدید انجام شد

## آموزش خاص مسئولان ولایتی میادین هوایی

برای مسئولان ولایتی میادین هوایی افغانستان سمینار ده روزه برگزار شد که در آن قوانین بین‌المللی، موضوعات تخنیکی و تفاهم‌نامه‌های مهم آموزش داده شد و همچنان برای کارمندان میدان هوایی بین‌المللی خوست و میدان هوایی ترینکوت پیرامون مراحل امنیتی معلومات ارائه شد که برای انجام وظایف خود آماده شده و نقش مهمی در بهبود میادین هوایی خواهد داشت.

## تنظیم شرکت‌های ترانسپورتی

برای نمایندگان سکتور ترانسپورتی سمینار ۱۵ روز برگزار شد که در آن اطلاعات مفید در مورد ارتقای معیارهای شرکت های ترانسپورتی و تطبیق اصول ارائه شد، که علاوه‌برآن در تنظیم شرکت‌های ترانسپورتی نیز حائز اهمیت است.

همچنان برای رانندگان وزارت ترانسپورت و هوانوردی نیز سمینار آموزشی سه‌روزه برگزار شد که در آن در مورد چگونگی حفظ و مراقبت، اصول رانندگی و مشکلات تخنیکی و سایط نقلیه معلومات ارائه شد.

## پیشرفت در بخش تکنالوژی

برای کارمندان بخش تکنالوژی معلوماتی طی سمینار پنج‌روزه در باره تکنالوژی‌های پیشرفته به طور عملی و نظری آموزش داده شد که این برنامه باعث تقویت مهارت‌های کارکنان در این زمینه شده است.

برنامه‌های وزارت ترانسپورت و هوانوردی نه‌تنها ظرفیت‌های داخلی این اداره را افزایش داده، بلکه نقش سازنده‌ای در اصلاح سکتورهای مرتبط و توسعه اقتصاد ملی داشته است. این ابتکارات نمایانگر چشم‌انداز جدید برای توسعه این وزارت است و موفقیت‌های بیشتری را در آینده پیش‌بینی می‌کند.



# پیشرفت‌های به میان آمده در خدمات ترانسپورتی افغانستان

وزارت ترانسپورت و هوانوردی پیشرفت‌های قابل‌توجهی در زمینه ارائه خدمات ترانسپورت کشور ایجاد کرده است که سیستم ترانسپورت کشور را رونق خواهد داد. در این گزارش دستاوردها و پیشرفت‌های تازه از خدمات ترانسپورت تشریح می‌شود که شامل ثبت شرکت‌های ترانسپورتی، معرفی سیستم‌های الکترونیکی، ساخت بنادر کنترولی و دیگر پروژه‌های ساخت‌وساز بخش ترانسپورت کشور است.

این فعالیت‌ها به هدف معیاری شدن سکتور ترانسپورت و ارائه خدمات بهتر به مردم انجام شده است.



## ثبت ۵۹ شرکت جدید ترانسپورتی و اجازه‌نامه فعالیت:







وزارت ترانسپورت و هوانوردی در جریان ماه‌های (میزان، عقرب و قوس) سال ۱۴۰۳ خورشیدی به تعداد ۵۹ شرکت جدید ترانسپورتی را ثبت و اجازه‌نامه فعالیت صادر کرده است. همچنان به تعداد ٦٦ شرکت ترانسپورتی که قبلاً اجازه‌نامه فعالیت داشتند، مطابق به معیارهای جدید ترانسپورتی برابر شدند. با این ابتکار، موثریت شرکت‌های ترانسپورتی بیشتر شده و پیشرفت‌های چشمگیری در سکتور ترانسپورتی مشاهده می‌شود.

در کنار این، به نمایندگی‌های ترانسپورتی نیز توجه شده و به ۲۷۴ شرکت ترانسپورتی اجازه فعالیت نمایندگی داده شده است. این اقدام گامی مهم در شفافیت امور ترانسپورتی و بیشترشدن تسهیلات به مردم تلقی می‌شود.

همچنان ۱۹ شرکت تکسی رانی در کابل به فعالیت آغاز کرده است، این شرکت‌ها بر اساس طرزالعمل جدید ایجاد شده‌اند که در راستای فراهم‌شدن تسهیلات بیشتر در سفر به مردم یک گام مؤثر پنداشته می‌شود.

## اعمار ساختمان اداری مدیریت عمومی تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت کاپیسا

از سوی وزارت ترانسپورت و هوانوردی سنگ بنای اعمار تعمیر اداری مدیریت عمومی تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت کاپیسا به هزینه چهار میلیون و ۴۳۲ هزار افغانی از بودجه انکشافی این وزارت گذاشته شد. این تعمیر در دوطبقه ساخته می‌شود که در مدت هشت ماه کارهای آن تکمیل خواهد شد.

## ایجاد بندر کنترولی در شاهراه سمنگان-بلخ

ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت سمنگان یک بندر کنترولی وسایط ترانسپورتی در شاهراه سمنگان-بلخ ایجاد کرده است. این بندر به‌منظور تطبیق اصول ترانسپورتی، جلوگیری از فعالیت‌های غیرقانونی و نظم وسایط باربری و مسافربری ایجاد شده است.

## برای وسایط معیاری در نیمروز تصدیق‌نامه داده شد

ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت نیمروز با همکاری انجنیران تخنیکی، به تعداد ۶۰۰ واسطه اصلاح شده و وسایط باربری معیاری را چک تخنیکی نموده‌اند که در نتیجه برای این وسایط تصدیق‌نامه داده شده است.

## فعالیت‌های روزانه در ترمینل بغلان

ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت بغلان در ترمینل باربری بین‌الولایتی این ولایت به‌طور ۲۴ ساعته خدمات ترانسپورتی ارائه می‌کند. از این ترمینل روزانه بیش از صد عراده واسطه باربری به بارگیری معرفی می‌شوند، و سیستم روند نوبت به‌گونه‌ای منظم تطبیق می‌شود تا اموال تاجران در زمان کم به مقصد انتقال داده شود.

## فعال‌سازی سیستم الکترونیکی در ولایت بلخ

ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت بلخ روند ثبت وسایط باربری را در سیستم الکترونیکی آغاز کرده است که تاکنون به تعداد ۷۰۰ واسطه ثبت سیستم شده‌اند.
آغاز این پروسه برای رانندگان و تاجران تسهیلات بیشتری را فراهم کرده است که بر اساس آن، نوبت بارگیری واسطه به طور شفاف تنظیم و از تلف‌شدن وقت جلوگیری می‌شود.



## روند ثبت وسایط در ترمینل باربری تورخم

از سوی ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت ننگرهار روند ثبت وسایط در سیستم الکترونیکی روند نوبت در ترمینل باربری تورخم به طور عادی جریان دارد که تا کنون به تعداد سه هزار و ۸۴۲ واسطه باربری در این سیستم ثبت شده است. قابل‌ذکر است که در سراسر کشور از طریق سیستم الکترونیکی روند نوبت بین‌الولایتی به تعداد ۳۱ هزار و ٦٥١ واسطه باربری ثبت شده است که این فعالیت نظم ترانسپورتی را بهبود می‌بخشد.

## اعمار یک محراب مسجد در بلخ

کار ساخت یک محراب مسجد در صحن ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت بلخ به هزینه سه میلیون افغانی آغاز شد که در مدت دو ماه تکمیل و به بهره‌برداری سپرده می‌شود.

## توزیع اسناد ترانسپورتی به بیش از دو هزار و ۷۰۰ واسطه در کابل

ریاست تنظیم ترانسپورت عامه شهری کابل در جریان ماه‌های (میزان، عقرب و قوس) سال جاری برای دو هزار و ۷۰۸ واسطه (بس شهری و تکسی) در کابل کارت الکترونیکی و کتابچه ترانسپورتی توزیع کرده است.

همچنان در جریان این ماه‌ها به ۵۰۰ عراده واسطه بس و مارسدیس ستیکر مسیرهای معین توزیع شده است.

تحولات جدید در زمینه خدمات ترانسپورت نه‌تنها باعث گسترش فعالیت شرکت‌های ترانسپورتی می‌شود، بلکه ایجاد شرایط و امکانات بهتر را برای خدمت رسانی به مردم فراهم می‌کند.

این فعالیت‌ها نشان می‌دهد که وزارت ترانسپورت و هوانوردی برای ارتقای کیفیت خدمات ترانسپورتی در کشور تلاش جدی دارد. این اقدامات منجر به توسعه، شفافیت، نظم و خدمات معیاری در بخش ترانسپورت کشور می شود.








# د هوايي چلند انسټيټيوټ زده کړيالانو مخابرې جوړې کړې

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت اړوند ملکي هوايي چلند انسټيټيوټ د هوايي چلند ټکنالوژۍ څانګې زده کړيالانو د خپلو تخنيکي مهارتونو په ښودلو سره يوه ستره لاسته راوړنه ترلاسه کړه. دغو ځوانانو په برياليتوب سره د ۷زره افغانيو په لګښت داسې مخابرې جوړې کړې، چې په يو کيلومتر واټن کې شفافې غږيزې اړيکې ټينګولای شي.

زده کړيالانو څنګه دا لاسته راوړنه ترلاسه کړه؟

د انسټيټيوټ مجهز لابراتوار يو له هغو مهمو بنسټونو څخه دی، چې زده کړيالانو ته يې د دې نوښت لپاره زمينه برابره کړه، تر څو دوی د خپل مهارت او هڅې په کارولو سره د مخابراتي تجهيزاتو جوړولو لپاره يو نوښتګر پروپوزل وړاندې کړ او د لابراتوار له ځانګړو وسايلو په ګټه اخيستو يې د دې پروژې عملي بڼه رامنځته کړه.

يو زده کړيال چې د دې پروژې د ترسره کولو برخه و، په خپله وينا کې وويل:

"موږ هڅه وکړه چې د محدودو امکاناتو څخه په ګټه اخيستو يوه داسې وسيله جوړه کړو، چې د اړتيا وړ اړيکې په اسانه ټينګې کړي. اوس موږ دوه مخابرې جوړې کړې دي او په راتلونکي کې به د لا پرمختللو وسايلو جوړولو ته دوام ورکړو."

د ملکي هوايي چلند انسټيټيوټ استادانو د زده کړيالانو د دې بريا ستاينه وکړه او څرګنده يې کړه چې د ټکنالوژۍ څانګې مجهز لابراتوار د نوښتونو لپاره غوره چاپېريال دی.



ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په دې باور دی، چې د انسټيټيوټ د زده کړيالانو دا ډول نوښتونه د هېواد پر ځان بسيا کېدو لپاره مهم ګامونه دي. وزارت هڅه کوي چې دوی ته د عملي پروژو لپاره لا ډېرې اسانتياوې برابرې کړي، څو وکولای شي د ټکنالوژۍ په ډګر کې د هېواد راتلونکی روښانه کړي.

د مخابراتي وسايلو جوړولو دا بريا له يو پلوه د زده کړيالانو د وړتيا نښه ده، له بل پلوه د انسټيټيوټ د ښوونيز چاپېريال او د وزارت د ملاتړ څرګندونه هم کوي. تمه ده چې په راتلونکې کې د دې پروژې په څېر نور پرمختللي وسايل جوړ شي، چې افغانستان د نوې ټکنالوژۍ په ډګر کې له نورو سره سيال کړي.

دغه پروژه د ټکنالوژۍ په ډګر کې د ملي پرمختګ لپاره يوه نوې لاره پرانيزي او د ځوانو مسلکي کدرونو د وړتياوو يوه بېلګه وړاندې کوي.

## په بېلابېلو ولايتونو کې د سلګونه موټرو تخنيکي ارزونه ترسره شوې

په تېرو درېيو مياشتو کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د موټرو د تخنيکي ستونزو د حل او لايزري څراغونو د لرې کولو په برخه کې د پام وړ ګامونه پورته شوي دي. په دې موده کې د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې له ۴۰۰۰ څخه د زياتو موټرو تخنيکي ارزونه ترسره شوې ده، چې د ټرانسپورټي معيارونو د ښه‌والي او د مسافرو خونديتوب د تامين لپاره خورا اغېزمن تمام شوي دي.

د کابل، کندهار، هرات او نيمروز په شمول ګڼو ولايتونو کې د هغو موټرو کنټرول شوی چې تخنيکي ستونزې يې درلودې او د ځينو غيرمعياري موټرو فعاليت يې د اصلاح لپاره ځنډول شوی دی. د دې ترڅنګ، د کندهار او نيمروز په ولايتونو کې د موټرو څخه د غير قانوني لايزري څراغونو لرې کولو لپاره عملي ګامونه اخيستل شوي دي.

دغه کړنې د موټرو د سرعت د کنټرول، د مسافرينو د خونديتوب او د ټرانسپورټي شرکتونو د اصولو د پلي کېدو په موخه ترسره شوې دي. د راپورونو له مخې، يوازې په کابل او کندهار کې د زرګونه موټرو تخنيکي وضعيت ارزول شوی او د لايزري څراغونو کارول د ټرافيکي اصولو سره په ټکر کې ګڼل شوي دي.







# د ټرانسپورټي تاسیساتو پراختیا

ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د هېواد په بیلابیلو برخو کې د ټرانسپورټي تاسیساتو پراختیا لپاره مهمې پروژې پیل کړې دي. دا هڅې د ټرانسپورټي ستونزو حلولو، ټرانسپورټي خدمتونو معیاري کولو او د خلکو لپاره د غوره اسانتیاوو برابرولو په موخه ترسره کېږي.

## بلخ ولایت: د جومات او چاپېرېدونکي دېوال بنسټ ډبره کېښودل شوه

په بلخ ولایت کې د بین‌الولایتي باروړونکي ترمینل لپاره د ۳۶.۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د یو جومات، د ۶۲۰۰ مترو په اوږدوالي چاپېرېدونکي دېوال او نورو تاسیساتو د جوړولو چارې پیل شوې. د دې پروژې د بنسټ ډبره د ټرانسپوټ او هوايي چلند وزارت د مسئولینو لخوا کېښودل شوه.

## کندهار: د پل باغ مسافروړونکي ترمینل د چاپېرېدونکي دېوال جوړولو کارونو پیل

په کندهار کې د پل باغ مسافروړونکي ترمینل د چاپېرېدونکي دېوال جوړولو چارې د ۱۶ میلیونه افغانیو په لګښت پیل شوې. دا دېوال چې ۲۳۰۰ متره اوږدوالی لري، د څلورو میاشتو په موده کې به بشپړ شي.

## سمنګان: د مسافروړونکي او باروړونکي ترمینل د بنسټ ډبره کېښودل شوه

په سمنګان کې د ۲۹ میلیونه افغانیو په لګښت د مسافروړونکي او باروړونکي ترمینل د جوړولو چارې پیل شوې. یاد ترمینل به په اته جریبه ځمکه کې جوړ شي، چې جومات، د اوداسه ځایونه، د اوبو سیستم، انتظار ځایونه، ۲۲ دوکانونه او موټر چلوونکو لپاره به پکې د شپې ځایونه هم شامل وي.



## کندوز: د تیرپارک چاپېرېدونکي دېوال جوړولو چارې پیلېدل

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت لهخوا په کندوز ولایت کې د ۱۱۰۰ جریبه ځمکې په ساحه کې د تیر پارک لپاره د ۶۰۳۷ مترو په اوږدوالي د چاپېرېدونکي دېوال جوړولو چارې د ۳۵ میلیونه افغانیو په لګښت پیل شوې.

## کابل: د پامیر سینما مسیر بس موټرو هډې لیږدول




په کابل کې د پامیر سینما مسیر بس موټرو هډه له نساجي سیمې څخه احمدشاه بابا مېنې ته ولېږدول شوه. د دې اقدام موخه د ښاري ګڼوڼې مخنیوی او د ښاریانو لپاره د غوره ټرانسپورټي خدمتونو برابرول دي. موټر چلوونکي له دې اقدامه خوښي څرګندوي او وايي چې نوی تمځای د پخواني په پرتله ډېر مناسب او لومړنۍ اسانتیاوې پکې موجودې دي.

ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت هڅه کوي د ټرانسپورټي تاسیساتو په پراختیا سره خلکو ته غوره اسانتیاوې برابرې کړي. دا پروژې نه یوازې د موټرو لپاره غوره شرایط رامنځته کوي، بلکې د مسافرو او موټر چلوونکو ژوند هم اسانه کوي او د ټرافیکي نظم د ښه کولو او د خلکو ژوند اسانه کولو لپاره هم یوه مهمه هڅه ده. د ټرانسپورټي خدمتونو په برخه کې دغه پرمختګونه د یوه سوکاله افغانستان لپاره د یاد وزارت ژمنتیا څرګندوي.

# تلاش‌های جدی برای ایجاد تأسیسات ترانسپورتی در ولایات



به ابتکار وزارت ترانسپورت و هوانوردی، تعیین و انتقال زمین برای هده‌های ترانسپورتی، ترمینل‌ها و سایر تأسیسات مربوطه در ولایات مختلف افغانستان ادامه دارد. این گام به‌هدف ایجاد تسهیلات در سیستم ترانسپورت کشور، رفع مشکلات ترافیکی و توسعه اقتصادی، تحول اساسی و قابل‌توجه تلقی می‌شود.

## اعمار هده‌ها برای وسایط مسافربری اطرافی در ولایت غزنی:

در ولایت غزنی ۱۰۵ جریب زمین برای هده‌های اطرافی اختصاص داده شد. از این جمله ۶۰ جریب زمین برای مسیر غربی، ۲۰ جریب برای شمال، ۱۵ جریب برای جنوب و ۱۰ جریب زمین برای مسیر گردیز تعیین شده است. با اعمار این هده‌ها نه‌تنها از مشکلات ترافیکی شهر کاسته می‌شود، بلکه امکانات هده‌های معیاری نیز برای وسایط مسافربری اطرافی فراهم می شود که خدمات ترانسپورتی در این ولایت به‌طور معیاری عرضه خواهد گردید.

## امضای قرارداد ساخت تأسیسات ترانسپورتی در زابل:

در ولایت زابل ۱۰۷،۵ جریب زمین به مدیریت تنظیم ترانسپورت جاده‌ای انتقال داده شده است که در آن هده‌ها، تیرپارک‌ها تعمیر اداری ساخته می‌شود. امضای تفاهم‌نامه انتقال زمین از وزارت زراعت، آبیاری و مالداری به وزارت ترانسپورت و هوانوردی تلاش جدید در بخش توسعه خدمات ترانسپورتی ولایت زابل تلقی می‌شود.

## تفاهم‌نامه ساخت دروازه‌های الکترونیکی ترانسپورتی در جوزجان و هرات

جهت ساخت ترمینل‌های ترانسپورتی، تیرپارک‌ها و دروازه‌های الکترونیکی ترانسپورتی در ولسوالی‌های آقچه و شبرغان ولایت جوزان همچنان ولسوالی گذره ولایت هرات ۲۴۷ جریب زمین به وزارت ترانسپورت و هوانوردی انتقال داده شد. با تطبیق این تفاهمنامه در راستای مدیریت امور ترانسپورتی وضعیت بهبود می‌یابد و برای مسافرین خدمات معیاری عرضه‌می‌شود.

## در دو ولسوالی ولایت غزنی هده‌های ترانسپورتی ایجاد شده است

ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت غزنی به‌منظور فراهم‌شدن تسهیلات ترانسپورتی، برای باشندگان ولسوالی‌های قره‌باغ و مُقر دو هده ترانسپورتی را در مسیر شهر غزنی ایجاد کرده است. با ایجاد این هده‌های ترانسپورتی تسهیلات بیشتر برای مسافرین این ولسوالی‌ها فراهم شده است.

## کار ساخت‌وساز در ترمینل باربری ابونصر فراهی

وزارت ترانسپورت و هوانوردی کار ساخت دیواری احاطه‌وی ترمینل باربری ابونصر فراهی را آغاز کرد. این پروژه شامل شش کیلومتر سرک، اتاق‌های محافظین و برخی بخش‌های دیگر نیز می‌شود که ۳۹ میلیون افغانی هزینه بر می‌دارد.

## پیشرفت‌ها در بخش مشخص نمودن زمین برای هده‌ها و ترمینل‌ها

در راستای معیاری سازی خدمات ترانسپورتی در کشور، نشست‌های مهمی در رابطه به مشخص نمودن زمین برای هده ها و ترمینل‌های ترانسپورتی در ولایات مختلف کشور برگزار شده است. در ولایت‌های خوست، پکتیکا، پکتیا، لوگر، بدخشان، بغلان، کندز، تخار، ننگرهار، غزنی، سمنگان و برخی دیگر از ولایات با والیان و مسئولان ادارات مربوطه در مورد انتخاب زمین بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

در این نشست‌ها در باره مشخص نمودن زمین مناسب بخاطر هده‌های ترانسپورتی، تصامیم مهمی اتخاذ شد. این نشست‌ها به‌منظور بهبود امکانات ترانسپورتی و ایجادشدن تسهیلات سفر میان ولایات است. با این پیشرفت و تحول، زمینه معیاری سازی خدمات ترانسپورتی هموار خواهد شد.

اعمار تسهیلات ترانسپورتی در ولایات مختلف کشور برای رفع مشکلات در زمینه ترانسپورت، ارائه خدمات به مردم، توسعه اقتصادی و هماهنگی منطقه‌ای یک امر ضروری پنداشته می‌شود. با تکمیل شدن این پروژه‌های تأسیساتی، افغانستان دارای یک سیستم ترانسپورت معیاری، سهولت مردم در زندگی روزمره و گسترش مسیرهای تجارتی خواهد شد.



# په تېرو درېیو میاشتو کې د ټرانسپورټي شرکتونو فعالیتونه

د ټرانسپورټي خدمتونو تنظیم او عرضې ریاست د روان کال په تېرو درېیو وروستیو میاشتو کې ۵۹ مسافروړونکو او باروړونکو ټرانسپورټي شرکتونو ته د فعالیت رسمي اجازه‌لیکونه ورکړي دي. دا اقدام د ټرانسپورټي خدمتونو معیاري کولو او د شرکتونو د قانوني فعالیتونو د ډاډمنولو په موخه ترسره شوی دی.

د یاد ریاست د وروستیو راپورونو له مخې، په همدې موده کې ۲۷۴ نورو ټرانسپورټي شرکتونو ته د نمایندګیو د فعالیت لپاره هم جوازونه ورکړل شوي، چې دا د ټرانسپورټي خدمتونو د لا پراختیا ښکارندویي کوي.

د دې جوازونو ورکړه نه یوازې د ټرانسپورټ په سکتور کې د شفافیت او اسانتیاوو د زیاتوالي لپاره مهمه ګڼل کېږي؛ بلکې د باروړونکو او مسافروړونکو موټرو فعالیتونه هم منظم کوي، چې په ټولیز ډول د هېواد اقتصادي پرمختګ لپاره یوه اساسي ګټه ده. دا ګام د ټرانسپورټ په برخه کې د غوره خدمتونو وړاندې کولو لپاره یو مهم پرمختګ دی، چې د اقتصادي فعالیتونو د پراختیا او د خلکو د ژوند د اسانتیا سبب ګرځي.

# انتقال رایگان و مصؤن مهاجرین افغان

به ریاست وزارت ترانسپورت و هوانوردی کمیته ترانسپورت در جریان ماه‌های (میزان، عقرب و قوس) به تعداد ۹۳۵ خانواده (۴۷۷۳ تن) را از تورخم، ۴۵۰ خانواده (۲۳۹۵ تن) را از بولدک و ۶۹۹ خانواده (۳۳۲۰ تن) را از کابل به نقاط مختلف کشور به‌طور رایگان و مصؤن انتقال داده است.

با این حال ۲۰۸۴ خانواده (۱۰۴۸۸ تن) جمله ارقام مهاجرین افغان است که در این سه ماه از بولدک، تورخم و کابل به مناطق مختلف انتقال داده شده اند.





## د درېيو مياشتو په موده کې د ځينو ترسره شويو غونډو، لېدنو او کړنو لنډ خبرونه:

### د تلې/ميزان مياشت:

- فعالیت‌ها به‌طور منظم در استیشن‌های هواشناسی جبل‌السراج و سالنگ‌ها جریان دارد.
- فارياب کې د ښاري ترمينلونو جوړولو په تړاو ناسته وشوه.
- د واټ ټرانسپورټ ولايتي واحدونو مسئولينو سره پرليکه ناسته وشوه.
- د ننگرهار ولايت رېکشاوو تنظيم لپاره د جوړشوي پلان پلي کولو په اړه ناسته وشوه.
- از فعالیت‌های ترانسپورتی در هده‌ها و ترمینل‌های مسافربری بغلان نظارت صورت می‌گیرد.
- وسایط تاجبکستانی در ترمینل باربری شیرخان بندر به بارگیری معرفی می‌شوند.
- روند ارائه خدمات ترافیک هوایی در میدان هوایی کندز برای انجام پروازها ادامه دارد.
- د موټر چلوونکو استازو ته د برېښنايي سيستم په اړه عامه پوهاوي ورکړل شو.
- د بلخ- کابل مسافروړونکو موټرو ترمينل کې لازمې اسانتياوې برابرې شوې دي.

- په ننګرهار ولایت کې د ټرانسپورټي شرکتونو له استازو سره ناسته وشوه.
- در ترمینل مسافربری ولایت تخار برای مسافرین خدمات ارائه می‌شود.
- فعالیت‌ها در هده‌ها و ترمینل مسافربری بغلان به‌طور ۲۴ ساعته جریان دارد.
- د کرایي لایحې ټاکلو په تړاو د مرکزي کمېټې غړو ناسته ترسره شوه.
- د کندوز ولایت شېرخان بندر باروړونکو موټرو ترمینل کې د جي پي اېس لګولو په تړاو موټرو چلوونکو ته سپارښتنې وشوې.
- د شېرخان بندر باروړونکو موټرو ترمینل څخه لیدنه وشوه.
- نیمروز ولایت کې د باروړونکو ټرانسپورټي شرکتونو له استازو سره ناسته وشوه.
- فعالیت‌های میدان هوایی تالقان به‌طور منظم جریان دارد.
- د واټ ټرانسپورټ معین په مشرۍ د کابل ولایت لویو ټرانسپورټي هډو د فعالیت ارزونې په اړه ناسته وشوه.
- هرات کې د مسافروړونکو موټرو سرعت کنټرول ترسره شو.
- هفته ۸ الی ۱۰ پرواز به میدان هوایی فیض‌آباد ولایت بدخشان انجام می‌شود.
- برای مسافرین در هده‌ها و ترمینل مسافربری بدخشان خدمات بهتر ترانسپورتی عرضه می‌گردد.
- د کندوز مسافروړونکي او باروړونکي ترمینل له ټرانسپورټي چارو څارنه وشوه.
- د پلخمري–کابل مسافروړونکې ټرانسپورټي هډه کې د مسافرو لپاره په ۲۴ ساعته ډول ټرانسپورټي خدمتونه وړاندې کېږي
- د ګردېز- خوست مسیر ډیرې مسافروړونکي موټر په رسمي بڼه برابر شوي دي.

# د لړم/عقرب میاشت:

- په هرات ولایت کې د کرایې لایحې د لا ښه پلي کولو په تړاو ناسته وشوه.
- په نیمروز ولایت کې د کرایې لایحې پلي کولو په تړاو د ټرانسپورټي شرکتونو له استازو سره ناسته وشوه.
- د کندوز مسافروړونکي ترمینل کې د کرایې لایحې څارنه ترسره شوه.
- روند جلوگیری از فعالیت وسایط شخصی در شهر کابل جریان دارد.
- د واټ ټرانسپورټ معین په مشرۍ د مسافروړونکو ټرانسپورټي شرکتونو له استازو سره د ټرانسپورټي شرکتونو طرزالعمل د پلي کولو په تړاو ناسته وشوه.
- بغلان ولایت کې د ټرانسپورټي اسنادو وېش دوام لري.
- تورخم کې افغان سوداګرو او موټرچلوونکو ته د اسانتیاوو برابرولو په موخه ناسته وشوه.
- سمنګان ولایت کې د موټرو کرایې لایحې پلي کولو څخه څارنه وشوه.
- د شمالي ولایتونو کوچنیو موټرو تم ځای کې زیاتره موټر په ټکسي بڼه برابر شوي دي.
- دسبز بار وړونکي ترمینل کې د ټرانسپورټي اسنادو وېش لړۍ پیل شوه.
- فعالیت‌های ترانسپورتی در هده‌های مسافربری ولایت سمنګان به‌طور منظم جریان دارد.
- هرات ولایت کې د موټرو اصولي فعالیت په تړاو ناسته وشوه.
- د پکتیکا- کابل مسیر ټول موټر له ټرانسپورټي اصولو سره برابر شوي دي.
- تمام تکسی‌ها در بلخ مطابق معیارات ترانسپورتی برابر شده‌اند.
- د کابل اړوند ټرانسپورټي کنټرولي بندرونو کې د اسانتیاوو رامنځته کېدو په تړاو ناسته وشوه.
- د کابل لوېدیځ ترمینل کې مسافروړونکي بسونه په ټرانسپورټي اصولو برابر شوي.

## د لینډۍ/قوس میاشت:

- د جوزجان ولایت په مسافروړونکو هډو کې ټرانسپورټي چارې په منظم ډول دوام لري.
- تورخم باروړونکي ترمینل کې څه کم ۳زره موټر ثبت شوي دي.
- مسافرین در سرپل از خدمات بهتر ترانسپورتی بهره‌مند اند.
- میدان وردګ ولایت کې د تیر پارک جوړولو پروژې چارې ۵۸ سلنه بشپړې شوې دي.
- فعالیت‌های ترانسپورتی ولایت فاریاب بهبود یافته است.
- د هرات ولایت سوداګرۍ او پانګونې خونې له استازو سره ناسته وشوه.
- هلمند ولایت کې د ټرانسپورټي شرکتونو له استازو سره ناسته وشوه
- کندوز ولایت کې مسافروړونکو او باروړونکو موټرو ته د ټرانسپورټي اسنادو وېش پروسه په نورمال ډول دوام لري.
- د سروبي ولسوالۍ د هوا پېژندنې آمریت د چاپېرېدونکي دېوال پروژې چارې ۹۰ سلنه ترسره شوې دي.
- د پایتخت ترمینل مسافروړونکو بسونو کې له جي پي اېس آلې څخه ګټه اخیستنې ته وسپارل شوه.
- د نیمروز ولایت واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست نوې اداري ودانۍ ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.
- هلمند کې د مسافروړونکي ترمینل جوړېدو چارې ۸۰ سلنه بشپړې شوې دي.
- در باره تثبیت کرایه وسایط باربری زون بلخ نشست برگزار شد.
- کابل نړیوال هوایي ډګر کې د انتظار ځای جوړولو چارې ۳۰ سلنه پرمخ تللي.
- با نمایندگان شرکت‌های ترانسپورتی ولایت بلخ دیدار شد.
- نیمروز ولایت کې د ټرانسپورټي شرکتونو فعالیت په تړاو ناسته شوه.
- هرات ولایت کې د نړیوال مسافروړونکي ترمینل جوړېدو چارې په چټکۍ سره روانې دي.
- په هرات ولایت کې د بین‌الولایتي باروړونکي ترمینل څخه لیدنه وشوه.
- در ترمینل باربری بین‌الولایتی آقینه ولایت فاریاب برای رانندگان و تاجران خدمات بهتر ترانسپورتی ارائه می‌شود.

# بایسکل یوه ارزانه او ګټوره وسیله




بایسکل، چې د ۱۹مې پېړۍ په لومړیو کې اختراع شو، د انساني تمدن په تاریخ کې یوه مهمه اختراع ګڼل کېږي. دا یوه اقتصادي او اغېزمنه وسیله ده چې د تګ راتګ اړتیاوې پوره کوي، د چاپېریال ساتنې لپاره ګټوره ده او د روغتیا لپاره بې‌ساري ګټې لري.



د بایسکل لومړنی ډیزاین په ۱۸۱۷ز کال کې د یوه الماني مخترع کارل فون ډرایس (Karl von Drais) لخوا وړاندې شو. دا وسیله له لرګي جوړه وه او د پېډلونو پر ځای د پښو په مرسته پر ځمکه حرکت ورکول کېده. په هغه وخت کې دا وسیله "مصنوعي آس" یا "ماشین" بلل کېده او کارل فون ډرایس د بایسکل پلار ګڼل کېږي.

په ۱۸٦۰مه لسیزه کې فرانسوي مخترعینو، لکه پیر لالمونټ او ارنست میکا، د بایسکل ډیزاین ته د پام وړ پرمختګ ورکړ. هغوی د پېډلونو، ځنځیرونو او د کنټرول لپاره لاسي ګیرونو جوړولو سره بایسکل ته نوې بڼه ورکړه. په ۱۸۸۵ز کال کې انګلیسي ډیزاینر جان کمپ سټارلي د لومړني عصري بایسکل ډیزاین وړاندې کړ چې دواړه څرخونه یې یوه اندازه وو اوخوندي ډیزاین یې درلود. نن ورځ په ټوله نړۍ کې د بایسکلونو بېلابېل ډولونه شته، لکه د غرونو لپاره ځانګړي بایسکلونه، د ښارونو لپاره د سړک بایسکلونه، او د لوبو لپاره ځانګړي ډیزاینونه په هر ځای کې موندل کېږي. بایسکل د ټرانسپورټ یوه ارزانه او د چاپېریال لپاره ګټوره وسیله ده. د موټرو پر ځای د بایسکل کارول د هوا د ککړتیا کمولو، د شین کوریزو ګازونو د تولید محدودولو او د ترافیکي ستونزو په حل کې مرسته کوي.

# د ژمي په رارسېدو د موټرچلوونکو لپاره اړينې سپارښتنې

ګرانو موټر چلوونکو! د ژمي په موسم کې د سړکونو حالت اکثره خرابېږي، چې له امله يې د موټر چلولو پر مهال خونديتوب ته ځانګړې پاملرنه اړينه ده. د مسافرو او توکو د خوندي لېږد او د هر ډول ستونزو د مخنيوي لپاره لاندې سپارښتنې په پام کې ونيسئ:



## د موټر تخنيکي حالت وګورئ:

- د انټي فريز (يخ ضد مايع) کچه برابره کړئ ترڅو د موټر انجن د يخنۍ له زيانونو خوندي پاتې شي.
- د تېلو او نورو مايعاتو لکه بريک‌تېلواو د شيشې پاکولو مايعاتو کچه وګورئ او ډک يې کړئ.

## د ټايرونو حالت او فشار:

- د ټايرونو فشار په منظمه توګه وګورئ، ژمنې ټايرونه وکاروئ او اضافي ټاير حالت هم وګورئ او ډاډ ترلاسه کړئ چې د اړتيا پر مهال ترې ګټه پورته کولی شی.

## د بريکونو معاينه او د موټر څراغونه:

- د بريکونو د ښه حالت ډاډ ترلاسه کړئ، ترڅو د سړک پر يخو او ښويو برخو کې د موټر چلول درته اسانه وي.
- د ټولو څراغونو فعاليت مو وګورئ؛ ځکه چې د ژمي په موسم کې د لېدو وړتيا محدودېږي او فعال څراغونه د خونديتوب لپاره مهم دي.

## د موټر پاکوالی او د سرعت کنټرول:

- د اړتيا په وخت کې د شيشې د بخار د پاکولو لپاره تودوخه (هيټر) فعاله کړئ.
- د سړکونو د يخ پر مهال په محتاط ډول موټر وچلوئ او د تيز رفتار څخه ډډه وکړئ، ځکه چې د ژمي په موسم کې د موټر کنټرول له لاسه وتلو خطر زياتېږي.

## د اړتيا په صورت کې چمتووالی:

- د سفر مخکې د سړکونو د حالت په اړه معلومات ترلاسه کړئ، په ځانګړې توګه د هغو سيمو په اړه چې زياتې واورې او يخ پکې وي.
- په موټر کې د بيړني حالت لپاره يو بکس وساتئ چې پکې لمريز څراغ، اضافي بيټرۍ، لومړنۍ طبي مرستې، اضافي جامې او يو څه خوراکي مواد شامل وي.
- د ټيليفون چارج مو بايد پوره وي او د اړوندو مرستندويه ادارو شمېره له ځان سره وساتئ.

## ځانګړې يادونې:

- د ټرافيکو قوانينو رعايت:
- د موټر چلولو پر مهال خپل او د نورو ژوند ته ارزښت ورکړئ.
- د موټر خرابېدو په صورت کې شرکت مکلف دی، چې له نږدې ولايت څخه بديل موټر راوغواړي او مسافر انتقال کړي.
- د ژمي د سختو حالاتو په پام کې نيولو سره، له غير ضروري سفرونو ډډه وکړئ.
- د هر ډول ستونزې يا د سړک د بندېدو په صورت کې د اړوندو ادارو سره اړيکه ونيسئ.

# د صبر ځواک

پتنګان د باران پر مهال خپلې وزرې په ځان پورې راټولوي او الوت نه کوي؛ ځکه چې باران يې نازکې وزرې ژوبلوي. ژوند هم کله ناکله داسې بارانونه وروي، چې وزرې ټپي کوي؛ خو صبر او ارام انسان ته د بېرته الوت ځواک ورکوي.

ځان ته وخت ورکړئ؛ ځکه چې د توپان او باران تر ختمېدو وروسته به مو الوت بې ساری ښکلی او له خطره خوندي وي.

ژباړه

وزارت ترانسپورت و هوانوردی
ریاست اطلاعات عامه و نشرات

# ترانسپورت و هوانوردی

مجله

علمی معلوماتی فرهنگی

